د مينې خدايه ستا كلام دې تل ما ته لارښود سي
مين دې كړم راوښيه چې مينه څنګه دود سي
شنه ژبه، مست خيال او هسک قلم دې چې ببرزو كړ
سپرلي دې چې كړم پوه مې كړه چې واورې څنګه رود سي
مليار

ټال

شعري ټولګه

Ketabton.com

مليار حكمت الله

۱۳۸۷ لمريز ليږديز كال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زړکې دا ستا ښکلو لیمو کې څه اثر پرېوتی
چې د زړه بازمې ستا په درکې مات وزر پرېوتی

وږمې د مړې ځمکې پر سر دم د عیسی ورپوکړ
بیا به ژوندۍ سي پرې له پاسه شین نظر پرېوتی

ګلونو وځئ له خزو په واورې اور پورې کړئ
لاس د سیلۍ نه د کنګل تېره خنجر پرېوتی

چې هڅوي پېښو د پېغلو ته د دښتې بوډۍ
د مین زړه خوږلن کې ګوره څه هنر پرېوتی

وږمې د هیلو کاروان راووست د اوربل سیوري ته
ځکه جبین کې د لیلا نوی اختر پرېوتی

ساقي پام وکړه عطر ویش نه دې چې پاتې نه سو
بېدیا د مینې کې غاټول سوی ځیګر پرېوتی

ښامار د تورو نه ګوهر د غزل ځکه باسي
چې د قلم اوده کې سوز د سره ټټر پرېوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر به ســـتا خواره اوربل کې ټیک د لمر وټومبي
څـــاروان د روڼ کاروان په غاړه د ګودر پرېوتی

سکور سوی زړه به مې د ستورو په مالت کې منې
د بلال رنګ ګـوره د حـــورو پر بشـــر پرېوتی

د احسـاس غوټه مې خلاصیږي بس د نور په ګوتو
رازمن زړګی مې د غـــزل ټال کې د لـــمر پرېوتی

ځولۍ د پرښـــو لپه، لپه باران لا تازه کـــــړ
ملیاره ســـــتا دلاس په اور کې څه شرر پرېوتی

(د وري پنځمه ۱۳۷۷ المریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بستر کې د اور رغـــــــړم څو مې تن په پخېدو سي
د مینې ســـور انګار سم ګوندې یار په سوځېدو سي

د اوښـــــــکو څاڅکي اړوم په تال کې د سکروټو
ســــــینه په تیغ د وخت کاږم چې لمر په راختو سي

ریبار د ژبې ولـــــــړم خوږو خوږو ســــــوالو کې
د هیلو ګل ډالۍ کــــــړم څـــو جوګه د قبلېدو سي

چې څـــــنګه ترې سترګې مې وربرېوځي په لېمو یې
د شـــرم سورکۍ وریځ یې را خوره پـــــه اننګو سي

وروالوزي نسیم د ســــویو سویو اســـــــویلو مې
غوټۍ د ســـورکو شونډو یې ورو ورو په رپېدو سي

د خـــــــولې بلبل سي ترې له نارو نه لاس په سر سي
د زړه مـــــــــرغه چونۍ کې د ګوګل په پربدو سي

مـــــحراب د وریځو وتړي تکل چې د سجدې کــړم
ارمـــــان د پستو شونډ د زړه تل کې په سلګو سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ډوب د حـــسن سین کې هغه سره سپینه له شرمه
خبر نه چـــې شېبې د خـــوږ دیدن پـــه تېرېدو سي

چې ســـــم تندې وهلې شـــونډې ورسیږي جام ته
آذان سي پېشلمی د روژتي پـــــــه ختمېدو سي

مالت ته د دیدن تږی راغـــــــــلی تږی درومم
شـــمېرم به د وخت ګوتې څو شېبې د بیا لیدو سي

(د غوایي څلورمه نېټه ۱۳۷۷ المریز کال)



(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور څڼې

غسل د باران ته د غــــزل ناوې بربــنډه ســـــوه
تود بازار د مينې سو حيا ترېنه په څــنډه ســـــوه

بيا دورې د عــــطرو د وږمې پــــه لاس کې ولوېدې
نقد يې ځای ونيوه سېــلۍ ترينه په منډه ســــــوه

دا د چــــــا د سوي زړه خوږلن دی په بيد ياوو کې
زيری د چـــــــا راغی د غمجنې خلاصه ټنډه سوه

دم د کوم عيسا کفن د سپينې واورې وڅــــــــيره
تېره چې وروستۍ سلګۍ د مرګ له پراته خنډه سوه

لــــــمر په ډېره مينه پر غريب څڼې د نــــور کاږي
لښته د سيلۍ يې لوڅو ډډو ځنې لـــــــــنډه سوه

ښـــــــکاري تر پالنګه يې رسېدلی د مليار قدم
زوکړه د ګل لـــــرې نه ده ځمکه ګـــوره ټنډه سوه

(د وري ديرشمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ماتېدونکی

ســـــتا د زلفو کړلیچو کې خـــوځند یون به مې مات نه سي
ســـــرکې ستا د کوچۍ مینې پروت جنون به مې مات نه سي

د زړګي پر ســـــر به ماته د ســــــرو شـــونډو پیمانه کړم
سوی ستونی به پرې لوند کړم هوډ پښتون به مې مات نه سي

ځـــــو ګربت د ارمــــــان کاږي د یاغي احــساس وزرونه
د ســــــــپوږمۍ د ښــــار په لورې الوتون به مې مات نه سي

ږدم د ســـــــتورو سپین خــــــالونه د تیارې په توره ټنډه
روڼ خـــــیال، ځلانده لاره، پاک مضمون به مې مات نه سي

وخـــــــــــته وسولوه ګوتې ځــــو کوی سې رژوه مې
پــــــــــه توده غېږ یې پربوځم شین پرون به مې مات نه سي

پـــــو کوه د باد شـــــــپیلۍ دې ریږدوه تش منځي دروي
زه د لـــــــــورې سروې ډډ یم ټینګ سکون به مې مات نه سي

کـــــه ته حــــوره د جنت سې زه به تــور رنګ د بلال سم
ســــــتا د سپین جبین په لورې پورته تلون به مې مات نه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دې لار کې غـــــور ځولې پاس پر ســـر يې پښه رسا بېده
چېرته جوړ لـــــه ښيښې نه دی زړه مفتون به مې مات نه سي

زه مــوجود صنم مې رنګ دی زه دریاب نګار مې څنګ دی
کــــه دنیا رقیب، رقیب سي کلک تړون به مې مات نه سي

(د غوايي نولسمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مټکور

ډېرۍ د زوزو په لمبو اړوو
په ټق د خوله غړپ د ترخو اړوو

دارو د زهرو په سېلاب جوټه سو
د زړه پرهر په سرو اورو اړوو

ګوندې که ور د مراد وټکوي
پورته څپې د اسویلو اړوو

د هیلو بڼ ته د ورتګ په تمه
د دمې مېنه په ازغو اړوو

د زړه ډال نه سته د بڼو غشو له
په تېښته کډې پر اوږو اړوو

د لټې څڼو کې ویده نه سو ویښ
څومره چې ژبه په پښتو اړوو

شهید ارمان مو د زړه تل کې خښ دی
پر سر یې خاورې د سلګو اړوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تندر نیــــــــــولی لمر د کلي زموږ
تور د تیارو څـــــــه له په شپو اړوو

د خـــــــتګر کوږ نیت ته پام نه کوو
ورانۍ د مېنې پـــــــــــه پردو اړوو

د غـــره په حد کې وار په سپي رانغی
ملـــــــــــیاره ګاټي به ترڅو اړوو

(د غبرګولي څلورمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمت باران

د اور په دښته څڅېدلی څاڅکی
د وريځ له سترګو نه يم
خير دی که ومې څښينې سرې سکروټې
خو زه به ونه ايشم
زه به سړه کړمه لمبه د غضب
او د ايرو نه به يې
شين سر راوغوړيږم
د ګلو اور به پدې دښته باندې ولړوم
کرکه به ووژنم، مرګی به مړ کړم
او ژوند به وکرمه

(د غوايي اته ويشتمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب

بوډۍ په منډه منډه راغله د چینې غاړې ته
څو زرین خوب د سترو سترګو خپل اوبو ته کړي تېر
خو چینه وچه وه ډبرۍ وو پرې سپېره کودړي
د بوډۍ چاودې شونډې وښورېدې
څه یې د ژبې لاندې وویلې
د پورې شنه کلي باغو ته یې په حسرت وکتل
او خوب یې خوب پاتې سو.

(د لړم نهه ویشتمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مروره اوښکه

زړه کې یوه خـــبره تاو راتاوه ســـي
ســـــره د اور بڅره تاو راتاوه ســـي

غــواړي چې تاله د شونډو ویلې کړي
ډېره زوروره تاو راتاوه ســــــــي

ځاري د مــــــیوند د زمرو لاره نن
پـــــښغله ستر ګه وره تاو راتاوه سي

کــــــله له اټک نه ځادر لـــــرې کړي
کــــــله له خېبره تاو راتاوه ســـي

مــــــاري د ټټر نه لال د زړه غواړي
مســــــته پاړوګره تاو راتاوه ســـي

زلفې د نور کاږې پر ویده احـــساس
څومــــره خوندوره تاو راتاوه ســـي

خوله سوالـــګره نه ده خو الفت پسې
کې د ســـــوال سندره تاو راتاوه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا ملنګې هیلې ګل ورک کړی دی
ژاړې له انـــځره تاو راتاوه ســــــي

بیا ســـتړې ککی د سالو اور غواړي
ګرځي له ګـــودره تاو راتاوه ســــــي

نه څاځي ګریوان نه ستره په سترګو کې
اوښــــکه مروره تاو راتاوه ســــــي

غـــوځ به د ملـــیار ژبه سرونه کړي
لړ کـــــــه بېخوره تاو راتاوه ســــــي

(د غوایي پنځمه نېټه نارنج ګل مشاعره ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرلی لمر

(له اغیار سره خندا څه په کار نه ده)
یارانه د مچ عنقا څه په کار نه ده

دور بریښ د سپینو غاښو درنه غواړي
د کنډاسې خوله خندا څه په کار نه ده

ژبه مله سوه د احساس د لیونیانو
عقله وړه له بلا څه په کار نه ده

په شپېلۍ د محبت به زلفې ټال کړم
دې ښامار لره همسا څه په کار نه ده

بر مې زړه دی سپخېدلی کوزه پرې دی
درزي راسه نور دعا څه په کار نه ده

لبونۍ به کړمه ژبه لیونۍ ته
تش په سترګو کې وینا څه په کار نه ده

څپې اوښکې سوی ستومانه له پاییبوسه
سه راړنګه پرې حیا څه په کار نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرهر ګل مې اوبوم په نم د اوښـــــــــــکو
چاودو شونډو ته مـــوسکا څه په کار نه ده

ســـــر په لاس رقیب آباد کې به دې ستایم
په ټیټکو د اوښ غـــــــلا څـــه په کار نه ده

شـــــــهزادګۍ د ارمانو مې غم پخه کـــړه
ګریوان نه ســــته دی ژړا څـــه په کار نه ده

ډول ســـــرني لره مې غوړې څنې ســـــاتم
د پردو ســـــاز ته ګډا څــــــه په کار نه ده

د پګـــــړۍ پر ســـــر د وړي شـــمله ښايي
بې له دې بله ســـودا څـــــــه په کار نه ده

زه ملــــيار کرلی لمـــر لــــــرم په زړه کې
د ســــــــپوږمۍ ماته رڼا څــه په کار نه ده

(د غبرګولي اتلسمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوګرو میره

وړانګې د جبین دې د سپوږمۍ له مخ نه ځل ریبي
رد ځواب د شونډو دې ما شوم ارمان نه پل ریبي

ول دې د سکروټو شونډو سیځي د احساس فصل
لور مې د قلم څکه لمبه لمبه غزل ریبي

څومره که باڼه کړي په رنجو تېره د قاف ښکلې
ستا ساده ککۍ له نورو سترګو نه کجل ریبي

ستونی مې ګړنګ سي کمکی سوال مې په خاپوړو سي
خال د غونډې زنې دې د خولې د خواست تکل ریبي

اوړي د حیا ویرې رنګونه اننګو کې دې
کله اور سي وا وره کله سره لمبه کنګل ریبي

دا چې شونډې ست کوي او سترګې دې ګواښونه کړي
دواړه دي ملګري د مین د زړګي تل ریبي

پرېوته کوهي د زنخدان کې مې یوسف نظر
ګوري د زمزم څپو ته تش کتو کې جل ریبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مات به جام د شـــــونډو سي آخر د تلوســــو په لاس
پاس شـــــــراب خزي لاندې نه تنده ده ده مرچـل ريبي

نه به مري مـــــليار خبر دی که تبره سوی په ښنګ تربنه
عـــــطر د خورو زلفو دې ژوند ښني اجـــــل ريبي

(د چنګاښ څلورمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیله خوله

د حیرت چیغه له ګوګل د پرښتو ووته
چې مې کوچۍ مینه خزو نه د کمڅو ووته

نه چې ښکاري نظر د زړه سر په بڼو نښه کړ
بڼه د حورو مې کوډل نه د لېمو ووته

ډیوه وه بله د نظر ژبې لیلا څټله
حیا سوه خړه له دېرې نه په توبو ووته

د خولګۍ ویش وار مې په غسل د خولو کې سو تېر
کافره ټنډه مې ثواب نه د سجدو ووته

توپان د مینې مې ګلخانګه کړه را ړنګه پر ما
هیله د زړه مې په شربت د شونډو سرو ووته

نمروده عقله تا ګڼلې وې سکروټې شونډې
خلیلې خولې ته مې غوټۍ له سرو لمبو ووته

(د چنګاښ شلمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوري

هغه چې سیوری نه لري نو لمر په کاڼو ولي
سالار د ترورږمو ځکه سحر په کاڼو ولي

څوک نه ستړه چې سلام د نه ویشتو وکړي ښکاري ته
د کرکې ګوتې آن د خیال وزر په کاڼو ولي

رېبار د پاکې مینې ځکه نه رسي مالت ته
ښکارېږي کوم ناولی بر ګودر په کاڼو ولي

ښایسته د شیرینۍ اوربل به بچ سي له تاوانه
مومن لالی تورمخی پاړوګر په کاڼو ولي

سپین ستوري د وطن مې پردیسي دوړو سپېره کړل
د وخت دغه ناتار مې د زړه سر په کاڼو ولي

کاروان د ارمانونو په بیلارو لارو سر سو
تر شاغلیم د تللي پله اثر په کاڼو ولي

په ګاټو به د ستر ګو ښکلوم هر یو ګوذار یې
رقیب مې چې په لمسه د دلبر په کاڼو ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملــــــــیاره نازولې کبر دو مـــــــره ړنده کــــــړې
ما ســـــــــــــر ورته نیولی دا ځـــــــیګر په کاڼو ولـــې

(د چنګابښ پنځه ویشتمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې ګايه

څاڅکي، څاڅکي څڅېده د زړه په دښــــته
اوبوله يې د مينې ښـــــــکلې لــــــښته

د الفت بوټی چې ټول غوټۍ، غوټۍ ســـو
د باران ناوې سپرلي کې سوه پرې ســـخته

تور تندی مې د اشـــــنا په وره کې مات سو
چاته نه ژاړم له دې ناکــــــــــــامه بخته

که زه، زه وم نو به زما په خوښـــــــه څرخې
اوس د بل په مراد ګرځـــــــــه ياغي وخــته

سې نيمکـــــــــــړې په بل څه ګايه د مينې
د پښتو ژبه ســـــــــــوګند لره سوه هسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چيغه

چا په ګناه چا په توبو وخوړم
څه عقلمن څه ليونو وخوړم

په غاښ چيچلو مې پولاد ويلې کړ
خو د وريښمو زولنو وخوړم

کرار، کرار يې راته پښې څټلې
نسکور ګړنګ سومه څپو وخوړم

ډېرې مې وايستلې دارې آخر
کنډاسې خوله ژامو پستو وخوړم

هغه سوګند سومه چې پلی نه سو
ډېرو ناولو، ولو خولو وخوړم

مرتدو شونډو په ښکاره څټلم
شبخې خوله شاته د پردو وخوړم

ذهين سرونو کې بې سره سومه
په غېرو سر تشو سرو وخوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې پرښنه سي د وړانګو خـوراک
د ګل وطن مخ نه شغلو وخـــــــوړم

لمبه ســـــوم وسوځېدم دوړې سومه
شهیدو اوښکو سترګو سرو وخـــوړم

د ګربت ځیرې ککۍ چـــــــا تړلي
تېپس په ځو رنګه ځبرو وخـــــــوړم

ملـــــــیاره دادې د شاړ بڼ چیغې دي
وایي سپرلی بوله سړو وخـــــــوړم

(د زمري پنځمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غم تیکی

اې د صـــــبا ستوریه د شپو له تیکي ووځـــه
وســـــپږېږه ګل ســــه د ازغو له تیکي ووځــــه

څو به لیونیه شـــــمېرې ولونه د خورو زلـــفو
ځه د سپوږمۍ ښــــار ته د تیارو له تیکي ووځه

مارې د تتمر نه به دې لال د زړګي وبا ســــــــې
نور د پاړوګرې د کمځو له تیکي ووځـــــــه

خپله مینه مینه سه دارو سه نا ســــــــور تپ لره
بس د بل په یاد د شـــــوګیرو له تیکي ووځـــــه

وڅڅېږه لاندې ګوندې زړه شین سي ګلونه ســـي
اوښکې پښتنې نور د ښو له تیکي ووځـــــــه

هیلې راژوندۍ سه د سپېرو شونډو په څـوکو کې
پړق وهه خندا سه د سلګو له تیکي ووځـــــه

خیاله هرڅه مات کړه خو د زړه کعبه ودانه کـــړه
مینه کې د نورو ســــوګندو له تیکي ووځـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل سه په سکروټو کې، نمرود ســـــرونه وځنډه
اې خلیله عــــــشقه د لمبو له تیکي ووځـــــه

وینې مې اوبه سوې اســـــویلی مې د وږمې ځپې
لښتې نوره شنه ســـه د غرمو له تیکي ووځــــه

مړه ســـــول مقتدیان امامه ګوره ماسختن دې کړ
ماته کړه روژه دې د توبو له تیکي ووځـــــــــه

(د زمري شلمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغمه، توره او قانون

مستــــــه نغمه يم د بلبلو پســـــرلی جـــــوړوم
ځلانده توره يم، قانون يمه ســــــــړی جـــوړوم

دا چې کترې کوشـــــــېروم د ټوکيدلي صـــورت
ليونی نه يمه د مينې لـــــــــيونی جـــــــوړوم

ما په بيلتون کې پخې کــــــــړي د وحدت قصيدې
زه د احـــــساس په دم کودړونه منګی جـــــوړوم

د ســـــــيني چج کې د خوږلن مخ نه اېرې څنډمه
دانې دانې يې ټولــــــــوم تربنه زړګی جــــــوړوم

ســـــــترو ليمو نه را تويېږم په کـــــمره د ټټر
د نور څړوبی يم له کـــــانو نه غمی جـــــوړوم

کجکول په غاړه ټپي زړونه، ځــــــيګرونه غـــواړم
د ځلمي هوډ خوځنده ده يون ته سپيلنی جـــــوړوم

خير که ســوځيږم ځاځکي ځاځکي پرې له پاسه ځاځم
د الفت مزي ته مرجانو کې ســــوری جــــــوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیسه وړي د غنمو د ملـــــــیار غـــــــزله
آزمون د وخت ته د احـــــــمد بابا لمسی جوړوم

(د وږي شپږمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترې اوښکه

لاندې څــــــڅېدله خو ستنه سوله
ښکاري ســــترې اوښکه پښتنه سوله

تلله خــــــداې خبر د چا خاطر وو چې
بیا د سترګو کور کې میلمنه ســــوله

اوس یې د جــــــبین لیدو ته ترږی یم
څو مــــــره په پوړني کې درنه ســـوله

زه یې ناروا وو لــــــــره هو کـــړمه
دا زما روا ســــوالو ته نه ســــــوله

ورو په ورو د تورو زلـــــــفو ماره یې
تاوه ســـــو ملیار ته زولنه ســــوله

(و وږي اتمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شونډو ابلبند

خپل دي رانه پاتي په پردو مې ګـــــــرځوې ښـــــه له
حسنه د ژوندو په هديرو مې ګـــــــرځوې ښـــــه له

زه خو بس د ستا جبين ته سوی ســــــــــپېلنی ومـــــه
ښکلې اوس د نورو په سرو مې ګـــــــرځوې ښـــــه له

ما دې د سپين مخ لارو کې ډېرې شـــــــپې ليدلي دي
لمر کې مې د ېره کړه په تيارو مې ګــــــرځوی ښــــه له

دا چې راته مينه کې له جـــــــــــــرم او له توبو وايي
پرې مې ږده په دا ســــــــې ليونو مې ګـــرځوی ښـــه له

ما خو مې دا خامه ځواني ســـــــتا په خوله کې درکـــړله
پورته مې کړه وريت سوم په لمبو مې ګــــرځوی ښـــه له

خير به سي د شونډو په ايلبند کې لږ ښـــــــه مـــېنه را
زه ساده کوچی يم په ښارو مې ګـــــــــرځوې ښـــــه له

پرېږده ښاخکي، ښاخکي لاندې توی سمه سـيلاب سمه
وختـه دا په ځوکو د ښو مې ګـــــــرځوې ښــــــــه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې ناسپړلې غوټۍ زه مـــــليار د حـــسن يم
لاس راکړه چې ګل سې په ازغو مې ګـــــرځوې څـه له

(د وږي شلمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو جنګ

پېښه يي د ســــــترګو خو بانه د زړه په ســــــر لګي
هر ماشـــــــوم چې کاڼي واروي په قلـــــــندر لګي

سپين مخ نه يې شين ټيکری سو لرې سا مې لنډه سوه
بيا مې په چونۍ کـــــــــې د ګوګل د زړه وزر لـــګي

څـــــــه وکوم شېخه دې ګناه نه ځان نيوی نه ســـــم
چېرته چې وي ښـــــــــکلي زما ترې پرې نظر لګي

اوس دې چې دمه کړمه پالنګ کې سر د شـــــونډو را
دې جنت د حسن کـــې جامــــــونه د کــــوثر لګي

خياله چې ټيټ نه سې هســـــکه مېنه تل د هسکو يي
هر چېرې لومړی په لوړو څوکو نور د لــــــــمر لګي

(د تلې لومړی نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شونډو خیبر

تا پرون صـــبا وېلې خو نن په بل صـــبا تـــــړې
هــــر ځل چې مې وار رســـېږي ور دې د ښکلا تړې

څــــــو چې مې رټې زه به نارو نه لاس په ســـر نه سم
یوه ورځ به مې خـــوله په خبر د شونډو خامــخا تړې

زلفې مخ نه لـــرې کړه سپوږمۍ تندر نه وباســــه
ښـــــکلې څو په تورو تروږمــــو سپینه رڼا تړې

اوس دې چې ورشـــو کې د ځوانۍ ښکلا شنه سوې ده
آس مې د نظر څــــه له پــــه پړي د حـــــیا تړې

تا خــــو دې د حــــسن بڼ ته زه ملـــیار نیولی وم
دا د پیر بابا پــــه توغ ریښکی په نوم د چـــــا تړې

(د زمري اوه لسمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه زړی

دا چې ته یې سره سپینه زما رنګ لکه مړی دی
ستا په اننګو کې مې کرلی د زړه زړی دی

خود به تنده زور کوي د خولې پسې به خوله غواړم
تا مې دا تناکې ځیګر مالګه کې لړلی دی

څو پکې د شونډو له انګور نه جوړ شراب نه یې
مات سه ساقي خم دې زما خمار لره نیمګړی دی

حسنه تا خو لېچې ډېرې تاوې کړې خو شرنګ نه سو
زه کوڼ یم که چا دې له بنګړو نه شور شړلی دی

هسک اورمېږ به ګرځي په ورشو کې د تنکۍ مینې
څو د خیال د آس غاړه کې ستا د زلفو پړی دی

دا چې مې غزل نه نن د وریت ارمان لوګی خیږي
څڅ مې د سندرو په ځنځیر د اور تړلی دی

مست سه ابا سینه برید د اور سه د رقیب پله ته
نور نو د ملیار د صبر کلی اوبو وړی دی

(د تلې اوومه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د سرو شونډو خزه کې دی سرتېری د پېزوان پټ
ارمان یې له ګوزاره ځکه ځان کې ساتي ځان پټ

د اور غوړېدونه ښک دي د احساس غړونه سوځي
په زغره کې د تورو ترېنه ساتمه جانان پټ

په خال مینه ستا کړې سجدې د ګرځېدو دي
د وریځو د محراب لاندې دی سپینو کې شیطان پټ

د اوښکو پېغله ووته سرتوره له لېمو نه
له شرمه مې زخمونو د ټټر کې سوګروان پټ

سپرلیه لږ څه وسپړه دا تور ګل د بڼو یې
ښکاریږي رانه دې کې دی زمانه ټول جهان پټ

روژه مو سوه کلونه ملابانګ مو تر غوږ نه سو
امام د کلي نه دی؟ کوي ځان لره آذان پټ

ملیاره ښاپېرۍ د زړه د نور حجاب کې ساته
د نن دا ټولې ښکلې لړې سترګو کې دیوان پټ

(د تلې شلمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت پېغله

زړه د مینې مسلمان سو شپه او ورځ دعا د جام کړي
په محراب کې ستا د وریځو تور امام پسې قیام کړي

ستاله غاړې نه راښکته ګلورین ځای کې دمه وه
اوس هغه او ښکه زمزم سوه ډک جامونه یې سلام کړي

د ښو لښکر دې ټول سو تورو سترګو دې اور بند کړ
پښتانه سره جرګه سول فیصله په نوم د قام کړي

د مین تږې زړګې مې سوال روژه دوا ړه په خوله دي
خو د سرو شونډو مالکه یو ماښام نه بل ماښام کړي

ګوره ودې لید چې ناوې د قدرت څومره ده ښکلې
ملا ! ته چې پرې مین سوې خود یې هیله خاص او عام کړي

نه پوهېږم ورته څه سم دا د وخت پېغله له وریځو
کله جوړ راته محراب، کله لیندۍ کړي کله دام کړي

(د لړم نهه ویشتمه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوره زرکه

څـــانګه، څانګه هیله د رڼا په لـــــمن پرېوته
اوښـــــکه مې زمزم سوله چې ستا په لمن پرېوته

مار وخوړل خـــــر بچي یې بوره زرکـــــه ولاړله
خدای خبر ســـلګۍ سلګۍ د چا په لمن پرېوته

دا چې چغ شهید سو د بلبل په خوله کې، ګل ومړ
نه چې د یار ژبه د ښـــــېرا په لـــــمن پرېوته

وړي بار د سلګیو پېغلې شونډې په تنکو څوکو
ســـــترګه د کوم ګبر د خـــــندا په لمن پرېوته

میره د ســـــراب به سي اوبه ما جـــل وهلي ته
پـــــېغله د آمین که د دعـــــا په لـــمن پرېوته

اوس به په توبو توبو دنـــــــیا په تـــوبو راولي
ناوې د تقدیر مـــــــو د ملا په لــــمن پرېوته

نن د غـــــــزل تورو نه د چـــا د راتلو غږ راځي
ښـــــکاري چې د بخت ملکه زما په لمن پرېوته

(د لړم نهه ویشتمه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زفاف شپه

څومره ښکلې شپه وه محتسب ځنې حساب ورک وه
زما نه وې تسبې ورکې مـــــلا ځنې کتاب ورک وه

زه نـــشه، پتنګ نـــشه، ډیوه نـــشه وه جام نـــشه
ما نه لید ســـاقي، ســاقي زه نه لیدم شراب ورک وه

زما نښې د شـــــونډو خلاصه وه ستا د سپین بدن
هو ښې ســـــره حیا وه تللې حـــسن نه حجاب ورک وه

هرڅـــــه هرڅـــــه ځل وهل د مینې نور وینځلي وو
شـــــېخ نه ؤ، دوره نه وه، عـــذاب نه ؤ ثواب ورک وه

شـــــونډې به لا وچې نه وې جـــــام به بل راپرېوتو
تنده وه هرلـــــــورې ډک رودونه وو سراب ورک وه

زمـــــا آدم خـــــیال کـــوډل د مینې نه راونه ووت
زلفې د درخـــــــــو یې لـوبولې ترې رباب ورک وه

تېره شـــــــپه جنت کې وم مېلمه کوربه مې حوره وه
زما نه وو ســـــوالونه ورک هغې ځنې ځواب ورک وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېښودو بلبل يو ثـــــاڅکی عطر د غوټۍ خوله کې
پاڼی په چکچکو سوې مـطرب نه نغمه باب ورک وه

(د لړم نهه ويشتمه نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کڼو ښار

د زړګي مليار مې ړوند سو ګلان غواړي له انځره
د کڼو ښار کې يې سوال دی د ګونګي د خولې خبره

يکه زار يې دی وژلی، بګتی، لندۍ ژړيږي
د ډول ستوني کې ده ماته د پښتون د بخت سندره

لکه سور د اسرافيل سو هر پوکي کې اېلبند وژني
د شپونکي شونډې پردۍ دي که شپېلۍ سوه مروره

يا حسنونه نظر وژني يا نظر د سترګو بد سو
که نه څومره مات منګي مو سپېلني کړل له ګودره

د دنيا غيرتي خدايه بل ميوند زما په نوم کړې
زير ايوب زړګی مې غواړي بيا ملاله سترګه وره

فرياد چېرته يو سم شېخه په هيڅ حد ترلې نه ده
زما د زړه د څراغ غله ده يوه پېغله پاړوګره

زه خو ځښت هغه څپه ده بې له مانه ښکلې هيڅ ده
که هغه خور د سپوږمۍ ده زه د لمريمه بڅره
(د ليندۍ لومړۍ نېټه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلاد لمر

ته سپوږمۍ که پرښته یې څه بلا یې تېغ نظرې
ستا پښو ته کښاوې سوې د رڼو ستورو ککرې

خبر آذان د میني وکړه د ماشوم احساس په غوږ کې
ګبر خیال مې مسلمان کړه اې د حسن پېغمبرې

سره مښو که سرې منګلې هسې ګرځي زیارتو کې
زما د زړه باز یې ځیرلی دې پستې سپینې کوترې

دوزخي بادونه بار دي د وږمې په نرمو ولو
دار د وړانګو کې ځړېږي پېغلې زانې سپین وزرې

د رڼا توره په لاس کې لمر جلاد سو ستوري وژني
مرګ د نور په ګډا لمانځي د تیارو د دیو لښکرې

پړسېدلې سینې اوړي ځوانیمرګ کبان اوبو کې
د چینې تې زهرجن سول تر ښه نه راځي شکرې

ډېر ګلونه د ښو وو تاندو هیلو غوړولې
پانې، پانې اوس رژېږي لار بدله کړه دلبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کم اصله

ما هډ ورته تيلی کړلو
د زړه ويني مې تيل کړې
ما ويل چې به ډيوه سي
خو
هغه شيطان څراغ سو.

(د مرغومي اوه لسمه شپه ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راز کیسه

تش جـــام داســـې کیسه په خوله بربنډه وه نېولې
چې شـــېخ بیګا د رز د جـــینۍ ګـــنډه وه نیولې

په ټوکو ، ټوکو پـــــښه د چا د شـــپې وښــو ېدله
ســـــبا یې بیا په تور خـــواره ملـــنډه وه نیولې

ســــــودا په رضا ســوې زهد ه زه ملامت نه یم
د شــــونډو پېغلې خـپله ســـینه ټنډه وه نیولې

د لــــــمر امام ویده وو خــــو ګل پرښې وخنډلې
پستې دا د مـــــزې شـــــپه ډېره لـــنډه وه نیولې

پنډې د وچو شـونډو مې پېزوان ته عرضې ناست وه
د خال ســـــپاهي ترې بیا د شـــاتو ګنډه وه نیولې

(د مرغومي اوه لسمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواز

په ملا نرۍ ځلمې مچکې له ګل مخو اخلي
خو ستا له وېرې خوږې نارې تو کوي خوارکۍ
ته بيا په هر سهار ها خپلې مبارکې شونډې
په دې توکړو باندې ښې غوړوې
ته د مچو په تفاله خوله تړکوې خو زموږ
ماشوم د شونډو ته ببو د ګناه بوخ، بوخ کوې
ستا شات خوړلو ښه جواز د ښکلولو راکړ
نو زه هم والوتم ، مچۍ سوم، بڼ د ښکلو ته ځم
پوه سوم چې شات دومره خواږه دي نو مچو به څه وي
ولاړم مچکې له پې مخو اخلم
او ته کندو ته راځه !

(د مرغومي د برشمه نبته ۱۳۷۷ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدر

ســالارد ښو د نور په ځل جنګ د کابې ګڼلی
لاهـــولېوال د یون بل بـدر له لمبې ګـڼلی

د رڼا ګوتې د تیارې مـــرۍ ته ورســـېدې
یاغي مـــلنګ جنت د حـــسن له توبې ګڼلی

د ارمان مـــېنه مې ولجه کـړه روماني ملکو
واک د خـندا مې د پېزوان لاندې سوبې ګڼلی

د جـــواري میدان کې څه بایلې ناکامه بخته
لال د زړګي خـــو د آزمـــون تېرې شېبې ګڼلی

شـــېخه هغه پالنګ چې ته یې تر سبا یادوې
مـــلیار په نره د انګورو په تسبې ګـــڼلی

(د زمري اتلسمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړګي چونغر

د خوږې حـــورې خوله چې ستا له جامه پاتې سوې
د ښـــــکلا د یاد تسبې ده له امــــــامه پاتې سوې

روژتي لالیه څه ســــوې دا د سپینې خولګۍ مـــیره
ســــتا په تمه ډډې شونډې څو ماښامه پاتې سوې

د لمبه زړګي چـــــونغر کې لا د کـــکوبک آواز دی
دا ســــــې مه ګڼه چې زرکه له کـــلامه پاتې سوې

پت د مینې په ځــــــای سوی د نظر په پاني پت کې
هــــندوکۍ الله الله کړي له رام رامــــــه پاتې سوې

ژبه دا ســـې اوده کړې برګو غـــــبرګو پاړوګـــــرو
تل د زړه کیسه ترې وروســـته له سلامه پاتې سوې

ښــــــکلوي للمي ګلونه د نوا د پل ښــــــکالو یې
د راغـــــه تر څنګه غلې څوک له دامـــــه پاتې سوې

که څه هم د ســـــپېدو خوب وم هېڅ تعبیر زما ونه سو
لکه برخـــــــه د یتیم چې تل له پامــــــه پاتې سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنازې ته مې د اوښــــکو هــدیره د ګرېوان نه سته
د بڼو په تور تابوت کې له ناکـــــــامه پاتې سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه چمبه

د زړه غـــــلې چمبه مې چا په مــــینه تخنولې
که لاس د مسیحا ده وچــــه ویــــنه تخـنولې

د هـــــیلو پېغله کټ کې د زړګي اوړي را اوړي
مولا دې خـــــیر کړي بیا مومن شیرینه تخنولې

د ســــوې شپېلۍ غږ سره شرنګۍ سو د پاولیو
ښـــکاریږي کوم کوچي بیا خوشه چینه تخنولې

ځـــــه پام ساتئ کاواکې مې په بدو ونه لمانځئ
د ډډو شــــونډو ست خــــبره سپینه تخنولې

ملـیاره په دوو سترګو به دې خود ګلان ټوکیږي
په ځــــوکو د بڼو دې ګـــلورینه تخـــــنولې

(د کب اتلسمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې چېرې ښکلې وینم زړه مې ښوی له واکه وځي
غزل، غزل لوګی مې د ځیګر له کاکه وځي

ښکالو د کوم چنار خیال یې غوږ ته رسېدلی
د تورو چته پېغله مې له خوله کاواکه وځي

یو لال مې وو ساتلی خو د ستا ناکردو وسو
د هر توري په ځای یې پاس پر سر تناکه وځي

یاغي لیلا تر څو به راته ږدې په شونډو ګوته
نږدې دی ډک زړګی مې د ګرېوان له څاکه وځي

د قاف د غره دېوان یې تښتولو ته په څار دي
د شعر ښاپېرۍ ځکه له قلم شکاکه وځي

ملیاره څو دا ستا میخور نظر په میکده وي
تر هغه به خوږه نشه له بنت تاکه وځي

(د کب اتلسمه نېټه ۱۳۷۷ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخات

هلته د شپې د ځپر لاندې د سپوږمۍ تندي کې
باران وهلې دوه خیشتې توتکۍ ګونګې ناستې
ډیوې د اوښکو بلوي د کوم ارمان په قبر
او باد تارونه د ستار خوروي
سخات د سندرو ویشي

(د وري لومړۍ نېټه ۱۳۷۸ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

په بڼکه د ګربت
د شنه اسمان له مشوانۍ نه
یو څو څاڅکي رنګ را اخلم
او په پاڼه د سپوږمۍ کې
دغه سوې دعا نغاړم
پښتانه پښتانه ډېر کړې !
لویه خدایه ! لویه خدایه !
او زما د زړه په ژبه
د شملو ټولې خبرې
د کیږدیو ښې سندرې
را پېرزو کړې لویه خدایه !
لویه خدایه ! لویه خدایه !
(د کب پنځه لسمه ۱۳۷۸ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښتينواله

زما ښيښه خوښه ده
زه په ښيښه مين يم
ځکه، ښيښه نه په چا سيوری کوي
نه له چا وړانګې نيسي
ښيښه تور، تور ښيي
سپين، سپين ځلوي
نو
زه په ښيښه مين يم
زما ښيښه خوښه ده

(د وري شپږمه نېټه ۱۳۷۸ لمريز کال)



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډیو شرنګی

په ما تږي دا څـــــه تندر له پا ســــــه پرېو تلی
راکړی جـــــام مې څو ځلې له لاســـــه پرېو تلی

دا نیم ســـــوی الوی زړه د چا په اور ستي کړم
مـــجمر د مینې ســـــوړ سو له برا ســـه پرېو تلی

ملالې د لنډیو په شــــرنګي باندې یې جګ کړه
د هســـــکو برېتور ځلمی له آســــــــه پرېو تلی

ملـیاره په سینه کې دې دا هسې وړې هینداړې
د یار یاغي نظـــــــر دې له الماســــــه پرېو تلی

(د غوایي پنځه ویشتمه نېټه ۱۳۷۸ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنجو پڼې

چمبې وهي دوکړه مارانې د غم
د ویر کږزه بیا په ورا راغلې
او د سپوږمۍ له کلي
خدایزده د چا دېرې ته
خدایزده د چا کلي ته
خدایزده د چا بدو کې
د خندا ناوې په ډولۍ کې د سلګیو بیایي
او د رنجو پڼې په پښو کې
رنګې بنګې اوښکې
لکه همزولې د خندا د ناوې
امیل امیل دغې ډولۍ پسې ځي
نو
ځکه رڼا د سپوږمۍ تته ښکاري
ځکه د نور چینې ځبېښلې برېښي
او تندر نه ماتیږي

(د وري دیارلسمه نېټه ۱۳۷۸ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

لکه خبره مې د ژبې سر ته ښکلې راځي
غزل، غزل سي د زړه کور ته نابللې راځي

منتر به پوخ سي او ها سپینه تښتېدلې ماره
شونډې به چیچي د شپېلۍ غږ ته به غلې راځي

د خال امامه راته ستوري یې سجدې ته بوله
د تورو پېغله د زړه وینو کې وینځلې راځي

ښکاري کوم باد بیا د څنار له څانګې خرپ ایستلی
چې رنګ کودر نه سوې ساندې د سینځلې راځي

کوم سندر بول سر به یې بیا له سرې مرۍ کښیوځي
خولې د ټیغکې نه نوا نن د بلبلې راځي

د ښاپیریو توغ به بیا سي په لنډیو پورته
د قاف میونه ده ملالۍ توره ایستلې راځي

د شونډو بڼ کې یې ملیار د بوسې زړی ایښی
څکه یې خوله باندې غوټۍ، غوټۍ ښکنځلې راځي

(د غبرګولي پنځمه نېټه ۱۳۷۸ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ازغي په څــوکو وړي د ګل جنازه
په ټيک بار ســـوې د اوربل جنازه

د خال امـــام نه تکــبيرونه تښتي
پيکي راوړې د ســـنځل جـــنازه

حبش لښکـــر يې د ښو را دړومي
مينو وکــــــــړئ يو د بل جنازه

خوشـــاله توره دې ايستلې ساته
لږ ده چې بار ســـي د مغل جـــنازه

مليا ره زړي مو د بخت وچ ســـوي
چې په اوږو ګـــــرځوو تل جنازه

(د زمري دولسمه نېټه ۱۳۷۸ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غنمو وږی

زه لا په خپلو ولو باروم
هېڅ امام مې نه وو
چې جنازه مې وکړي
خو د نړۍ د تقديرونو باچا
زما په برخه کې بيا ژوند وليکه
هوکې ښکالو د کوم ملنګ د قدمونو راغی
او د غنمو دوه درې وږي يې د نور په ګوتو
زما سپېرو څنو کې ورو وتومبل
ماته يې ژوند وباښه
او زه بيا بېرته زه سوم

(د زمري دولسمه نېټه ۱۳۷۸ لمريز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساهو په یاد

سپین کتار د زانو مات سو سیسی ژاړي غلې غلې
چنار رنگ د عاطفې ســـو ځانګه ماته د سینځلې

د شنې ولې ســــــیوری ومړ د بنګړیو شرنګی ومړ
د رنگونو مـــور ســـوه بوره د ننګونو زړکی ومـــړ

په د ېرې د ولولـــــو کې د ماتم چـــیغه ســـوه ګډه
د ننګیال ویر ختم نه وو ســــــاهو وتړله کـــډه

بل ځلانده ســــــیوری ووت د ادب له رونړ مـدارِه
بل ملنګ بل قـــــلندر مو ولاړو ووت له کـــتاره

شنې ځولی د پســـرلي نه یو ګلاب په خاور پربوت
د احساس د پیر له لاسه سپین کتاب په خاور پربوت

بیا د بل بلبل ســــندرې د مرګي رانجو کــړې غلې
چنار رنگ د عاطفې ســـو ځـــانګه ماته د سینځلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګیله منه اشنا

ګرانه پوهېږم ګیله من يې رانه
چې په خبرو دې ستايلی نه سم
ښکلا ويشتلې د منکر غشي ده
ځکه د راز کیسه ويلی نه سم
دا چې لېمې هم څه ويل نه کوي
هره خبره يې په اور اوړي
دلته هرڅه هرڅه غوربږونه لري
آن د ښو د څوکو شور اوري
نو راځه !
راځه چې نور روژه د ګونګې نيسو
بس د زړګي تل کې به مينه پالو
يوه ورځ به ګل سي ځانګې ځانګې به سي
شپه به کړي ړنګه وړانګې وړانګې به سي
بيا به په هر ځای کې ستاينه يې ستا
بيا به هرڅه هرڅه کړي ژبه پيدا
بيا به سپېږو څښو نه ګرد وځنډو
له غلي ډول نه به آواز جګ کړو
بيا به د ېږي ته چلمونه باسو
له زوړ رباب نه به هم ساز جګ کړو
بيا به ښکاره غاړه غړۍ سو اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به مسرې د کاکړۍ سو اشنا
خو اوس راځه روژه د ګونګې نیسو
بس د زړګي تل کې به مینه پالو

(د کب څوارلسمه نېټه ۱۳۷۸ لمریز کال)



(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دا څـــنګه بېخودي ده چې نغمې په تار ښـــــويږي
هر واري له ســـــاقي نه جام زما په وار ښـــــويږي

چا بنګ زمونږ ملنګ ته د قلنګ په نوم ورکــــــړي
يا يې پل په لار ښـــــويږي يا يې پل نه لار ښويږي

نه يار ســـته، نه چنار ســـته د منګيو ميره ســـوځي
مرۍ، مرۍ خوله يې په سپين مخ کتار ښــــــويږي

مودې ســـوې د ټپو پېغلې ته چـــا رانجه ورکـــړي
سُر مات دی، لې ګډ ســـوی له مطرب ستار ښويږي

ملګـــــرو د قدرت د ښــــا پېرۍ کوډې دي نورې
دربار کې يې د ډېرو د ايمان مهار ښـــــــــويږي

د مينې مســـــلمان سه که د حـــسن جنت غواړې
د وصل له صـــــراط نه يې بس ســـره کفار ښويږي

ملـــــياره د ســــپوږمۍ مخ د منګر وربځو نيولې
قلم مې ځکه تم دی او کـــرار کـــرار ښـــــويږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تر ثو چې مې د خیال چنار غوثـــیږي ثانګې ثانګې
تر هغو به مې ژبه لا غځیږي ثـــانګې ثـــانګې

هغه وله اوس نه ستـه چې نو مونه مـــو پرې لیک وو
خو مینه مـــو ژوندۍ ده او غوړیږي ثانګې ثانګې

د هار په ځای په ســـــپینو غاړو هـار د دورو زانګې
رانه سې ! که اواز مې د ررســـــیږي ثانګې ! ثانګې !

چې ثـــه ګلان به وکړي زړه کې ســـتا نوم مې کرلی
دا اوس خو تور لوګی تربنه جـــګیږي ثانګې ثانګې

په ما وچ موري ســـپینه ابۍ وچه ســـي د وربځو
ډک تي ګوره په نورو ور خـــوریږي ثانګې ثانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د تندر ورا ده ناسته د سپوږمۍ کلي کې وير دی
شپېلۍ ده ماته سوې د کيږدۍ کلي کې وير دی

د خوارې سندربول لالي ته چا رانجه ورکړي
سلګۍ، سلګۍ، سلګۍ دي د غوټۍ کلي کې وير دی

يو ازې سوه نازکه به اوس ترک له غمه وچوي
آه اوښکې هم ترې ځي د توتکۍ کلي کې وير دی

هر ول د ګارګوتي پيکي تابوت د يو ارمان سو
پېزوان دی وژل سوی د نتکۍ کلي کې وير دی

شرنګی د لنډۍ نه سته کاکړۍ په زينډۍ سوې
ايوب له تندې مړي د ملالۍ کلي کې وير دی

شپول ړنګ رمه ده ورکه د شپونکي شونډې پرې سوي
ټول کړکي سوځېدلي د (هوسۍ*) کلي کې وير دی

بندي ده توره ديو سره سرواله د لنډيو
(مغروره*) کړي سلګۍ د (ښاپېرۍ*) کلي کې وير دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملــــــــياره ســــــتا غزل ته به ځوک دم د مسيحا سي
دېره د رباب ورانه د شـــــــــپېلۍ کلـــــي کې وير دی

(د وري اوه لسمه نېټه ۱۳۸۰ لمريز کال)

* (هوسۍ) ، (مغروره) او (ښاپېرۍ) د ليوال صاحب د ارشاک او اوشاس انځورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رڼا نذر

لا توري سترې نه دي
لا اوښان وږي ښکاري
او د ځوځانو پر ځای
زموږ د مېنې پر ګلانو باندې شخوند ماتوي
لا پټ په سپینو کې شیطان زما ساده ولس ته
جام د کوثر کې د مرګوني زهر غړپ ورکوي
لا مې د ستورو کور تیاره دی
په تورتم کې اوسي
او د سوال لپه یې ړنده ده
له شیطان ځراغ نه
د رڼا نذر غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر زوره اشنا

وايه تر څو به اشنا
ستا د نادودو پېټی
د تقدس په نوم پر سر ګرځوم
قسم نړدې دی ستړې ملا ځنې مې کړس وخيږي
او ناويلې نابللې مې په ژبه راسي
بيا به نو تاته، ماته څه پاتې سي
وايه سر زوره اشنا
سپينو کې توره اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په اور د ترمو اوښـــــکو مو د زړه کلا ســوځيږي
و مخ ته د پې مخو مو ایمان حیا ســــــوځیږي

دا ځــنګه له مالوچه پوست صورت برخې راکړی
لمبې يې هلته لـــــرې دلته زموږه خوا سوځيږي

دننه مو د کـــــومې نازولې ګــــــناه اور دی
د لپو په زانګو کې مو ماشـــومه دوا ســوځيږي

ســـــپوږمۍ شپنه د ستورو د لمبو تندر نیولې
نو ځکه په شـــپېلۍ کې د الفت نوا ســوځيږي

دې اور نه به روڼ مخی دا د مینې کـــــور راوځي
چا ویل چې د ملیار زړه کې د ګل ښکلا ســوځيږي

(د لیندۍ اوه لسمه نېټه ۱۳۸۱ لمریز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هوس وم رانیولی له ګـــــرېوانه نیمه شــــپه کې
ســـتا سترګو پردی کړی وم له ځانه نیمه شپه کـې

که چېرته په لاس راغـــــلې زړه له ډاګه به دې ولم
ځووم ځلې مې باســـــې له ایمانه نیمه شـــپه کې

څه خوږ رنګین مـــــزل یې زما په برخه وو لیکلی
د شــــونډو په پل راغلم تر پېزوانه نیمه شـپه کې

ستمی وو پسپسی وو پاس په بره بامبوټې کــــــې
د شونډو سوال کوو کوم چا له چانه نیمه شـــپه کې

چې هسک سي پر اوږو مې د ښکلا څوکو ته یوسي
د خدای غزل را واوروه جانانه نیمه شــــپه کـــــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پیر زورور وو د ملنګ خــــــدای یې پرده کړې وه
چې د یاغي ســـــترګو په یاد یې لړ نشه کــړې وه

که نه د تاک د مرید لورته خـــو موږ ترې ناست وو
خو موږ په زوزو شــــپه کړه تېره هغه ښـــه کړې وه

شــــېخه یو څه مې زړه ببوا که بل پیــ مخې ښې دي
قــــسم یو څو شــــېبې له مخه مې توبه کړې وه

هغه ســــــهار مې د قلم ژبې رنګونه شــــیندل
چې په کودوړو د مات سوي خم مې شــــپه کړې وه

نه چې د ســــــپینې خولګۍ ببه دې له سر واوښته
ګلې واده خو دې د شــــوندو ښـــه پخه کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميره

لوبغاړي: راوي- د راوي ملګرى- شاعر ملنګ- خړ ملنګ

(راوي)

دلته سپين لمنې څومره ژر په ناروا نيسي
دلته په آسانه تيارې مخه د رڼا نيسي

دلته بې پوښتنې تهمتونه په سپوږمۍ تړي
دلته بس د اور په ځنځير ستونى د شپيلۍ تړي

دلته لا د زاڼو د کوترو ښکار روا ګڼي
دلته ډيري خلک د هوسۍ منډې ګناه ګڼي

پيره له دې ځاى نه مې ګيلې درته راوړې دي
څو ترخې شيبې د ترخه عمر مې پيبيلي دي

راسه په رڼو سترګو يو سوى انځور ووينه
راسه مخامخ دلته نادودې د اور ووينه

***

هاغه لکه زرکه چې په څوکو د پنجو ګرځي
ها د پېغلو ميره چې چاپېره له منګو ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاغه چې کمځۍ يې ښـــاماران د زړونو ښکار کوي
هاغــه چې په هرواري کــــــــــتلو په زړه وار کوي

بس د ښـــــايستونو او حـــيا پوره هـــيندا ره ده
ښـــــــکلې دنيا ګـــــۍ ته د ورتلو رنګـينه لاره ده

دا چـــې نه يې کورکې يې چوپتيا ګونډې وهلې يې
ته به واى ګونګۍ دي ټولې شـــــونډې غلې غلې يې

دا خو بس يو کـــان د ښــــو ده پټه خـــزانه يې ګڼه
سرســـر د شودو ده د الماس ســـــوچه دانه يې ګڼه

پټه ده حيا کې د پښـــــتو دا د ســـپين غر هوسۍ
کټ مټ لکـــه زغـــــرو کې ولاړه د هنر هوســـــۍ

بس دى پيره تاته يې هـــمدومره لنډ پيژند ښــه دى
وايي چې په ډېرو ليوني خوښ يې لږ خوند ښــه دى

بيابه موده وروســــــته مخامخ د پېښو ښـار کـوو
ښـــه پاى ته به يې دواړه دعاګانې وار په وار کـــوو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

(څه موده وروسته)

(راوي)

پیره ښکاري پا پلې د کیسې ته تلوسه کې یې
دا سې راته بریښي چې راغلی نیمه شپه کې یې

(د راوي ملګری)

یاره ما ویل ګورم که مې چېرته بیدۍ میره سي
زه به یې مرید سم که دا میره زما پیره سي

شرنګ به سم، لونګ به سم، ملنګ به سم غزل که سي
سرتر پا یه رنګ به سم راجوړ د مینې چل که سي

دغه نکه پرښه به د ګل پاڼو کې ساتمه
دا د عطر ناوې به سنځل پاڼو کې ساتمه

(راوي)

پام پیره لړ تم سه ستا د پټو سترګو منډې دي
لاندې به ګوزار سې ستا په مخ د ګړنګ څنډې دي

مینه دې له پیله نیمه خوا سوه چې نیمګړې ده
دغه ښایستو کې د بل چا په بند تړلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته کوم شـــاه زوی دی چې ددې زړه يې ګټلی دی
دا لکـــــه ښيښه حســـــن يې پير ځانته منلـــی دی

کال کــــيږي چې زړونه يې د نظر په تار تړلـــي دي
هيلې، تلوســـــــې يې د ارمان هــار کې پېيلي دي

دلـــته مـــــــينانو لا د مينې پت ســــــاتلی دی
دلــــــــته محبت لا د زيارت غوندې سپېڅلی دی

دلته مـــينه ټوله د حــــيا په لاس پســــوللې ده
دلته لا ترا وســــــــه مـــينه هغه شــــان آغلــې ده

دلته خــو ديدن بس د نظـــــر يو جنګول ګـــــڼه
دغـــــــه د نظر جــنګ دديوانو څـــملول ګـــــڼه

دلــته مينې پيره د اوبو غـــوندې ســـــــپېڅلې دي
دلته دديدن شـــــــيبې زمـــزم په شـــــانې ولې دي

مور د ځـــــلمي لار په ريبارۍ پړنده خــاوره کـــړه
څـــو ځلې يې هلته د خيبنـــۍ ځولۍ اواره کـــــړه

پلار د جينۍ ســـــــر کې د ولوروانه نشـــه لري
اوس پورې ښـــکاريږي چرګ يې بس يوه پښـــه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم د ریباری سره خبره ډنډوره سوله
میره پلانی غواړي ! ښکته پورته اوازه سوله

دا اند وو چې دوی دواړه خو مځکه آسمان لرې دي
مور یې په کوم زړه دې مرکې ته وردانګلې دي

خلکو ویل هرومرو څه پټه غلې منځ کې ده
دا زړورتوب خو بس د مینې خواږه رنځ کې ده

بس د خلکو خولې دي څوک خولبول وراچولی سي
تشې نغارې ښکاري خو کلي ورانولی سي

لښته په نازک مخ د تهمت سیلۍ وهلې سوه
دا چې نګه شرنګ نګه نغمه وه غلې، غلې سوه

نور ددې خوارانو د نظر مزي لنډ سوي وو
ټول د کلي خلک ددوی مینې ته خنډ سوي وو

ډېره موده وسوه د دیدن ماڼۍ یې ړنګه وه
دا د حیا زیرمه د دیدن پسې ملنګه وه

تېر ماښام یې پاڼې د دیدن په اوبو ولې سوې
اخ د زړه یې ووت د ګوکل لمبې یې غلې سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې اننګې سـره دې چـا ځـه ورته منلـې دي
چـا یې په تندې کې د ارمـان زړې کـرلـې دي

مـورته د ځلمې هـم لـږه لاره ورکـړ سـوې ده
ځـکـه د خـیالونو دنیاګـۍ یې نوې ، نـوې ده

ځـه پیره نن بس دی پدې ځـای د کیسې دمـه ده
دلته به یې پرېږدو چـې لا مـیره مـو بېغمـه ده

ګـورو له دې وروسـته به پدې مالت کې څـه وینو
خـدای خبر چې ځـومره به ترخه ځومره خواږه وینم

***

(شپږ میاشتې وروسته)

(راوي)

پیره وایه شـپږ میاشتې ددمې څنګه تیرې سوې
برخې د کیسې دې دې په یاد که درنه هېرې سوې

زما خو یې د ذهن شـنه ورشـو ټوله نیولې ده
بس دغې کیسې مې په زړګې کیږدۍ وهلـې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د راوي ملګرى)

زما ســـره هم سأ غوندې ملګرې ده تر اوس پورې
پاتې يې رابوله زړه مې تنګ دى نور نو څه ګورې

دې مورمړې ځـــنډ خو د وينې په شـــان خوږلى يم
پاې ته د كيسې دې ياره مـــړې تبې نيولـــى يم

(راوي)

دې ورځـــــو كې ميره د هوســيو ډل نه بېله ځي
كټ مټ لكه كلـــــه چې خيال غـــزل نه بېله ځي

اوس تياره ماښـــام كې د ګودر په لور څښبيږي ځي
شونډې يې تل ښـــوري ته به وايې چې غږيږي ځي

ډله د همزولو يې ها ګـــوره په لار ګډه ســــوه
جګه د عطرونو د ښــــــايست رنګينه ګډه سوه

نه ستـه ده ســرواله يې مستي ددوى نيمګـړې ده
چـا ترې ښـــا پيرى د خوشـــاليو په غلا وړې ده

څه شببه به تم ســـــو چې رڼا خپل ټيكرى وځنډي
وخت د منډو تړو غوټه بيا په بډه ومـــــــنډي

(c) ketabton.com: The Digital Library

میره به پېدا سي ښـــا پېرۍ ماښامۍ ســـوې ده
سیورو نه ویرېږي مار چیچلې هوسۍ ســـوې ده

شونډو یې خندا څه چې ترخه موسکا هم نه زده ده
اوس د دې منګیو میرې شـــــور او نوا نه زده ده

(د راوي ملګری)
بس دی یاره ځـــو به دغه حـــال یې زه لیدی نه سم
تیرې نه جوړ نه یم دغـــه غم ته ټینګیدی نه سـم

خامــــــخا پدې غـــرونه نادودې وربدلې دي
دا چې مستې سترګې یې له ښـــکاره دربدلې دي

ښــــــکاري زلزلې یې د زړګي ښـــار نړولی دی
شـــــرنګ د خوارۀ غږ یې د لمبو ځنځیر تړلی دی

څه چېرې ګوښـــــه غاړه په غاړه دا غـــم وژاړو
ښـه پای دې کیسې ته د ښایست له خدایه وغواړو
***

(راوي)
درې میاشـــتې ترمخه زموږ د میرې بخت په غم پرېوت
پاس د ویر په کرښـــه د قدرت د لاس قـــــلم پرېوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ددې ګلپاڼې له رنګين حـــسن نه رنګ وويست
خدايزده په کوم تور يې لـه سينې چم نه لونګ وويست

پيره دغــــــه راز به له رڼې هينداري وپوښــــــتو
څه چې له شاعـــــر ملنګ نه تللې لارې وپوښـــــتو

(د راوي ملګرى)
ياره خــــــداى لپاره ماته ګــوډې ماتې مـــــه وايه
ما ســــــاده ته دا د راز کيسې ميراتې مـــــه وايه

زه نګــــــه آمې يم ملنګانو نه په څــــــنګ ګرځـــــم
خپل رنګ نه وبربړم له هــــيندارو نه په څنګ ګرځـــم

(راوي)
دا هـــــغه هينداره ده چې بس وښــــو کې ښــــه ښيي
دومره ده آغلې چې ســــــکاره ســــــکاره رانه ښــــيي

دا خو د شــــــاعر ملنګ د خـــــيال رڼه هـــينداره ده
بس د عاطفـــې او مينې ښــــــارته ســــيده لاره ده

راســــــه پدې پوه ســـــو چې مو ميره چــا ځيلې ده
دغه د نوا شــــازادګۍ ولې غلــــــــې، غلــــې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د راوي ملګری)

سـمه ده، پوهېږې د ښـکلا له غمـه مړ يمه
چېرې چې ښـايست وينم كـتلو ته يـې پړ يمه

ما ته د ښـايستو کو غم ښـادي دواړه ښاغلـي دي
زه سـاده مليار يم ټول ګـلونه ما ته ښکلـي دي

ځه توکل په خـدای چې دا کـيسه پای ته ورلنډه کړو
هرڅـه چې پېښيږي دغه غوټه به په ګنډه کـړو

***

(راوي)

ځه چې د شـاعر ملنګ خيال له ګوتې ونيسـو
دا مريد د خـال راوي د تال له ګوتـې ونيسـو

ځـو به څو د راز د ښـاپېرۍ ورغـوی ولولو
ورو، ورو به ددې رنګې کيږدۍ ورغـوی ولولـو

سـترګې د شاعر ملنګ دي ژبه د شـاعر ملنګ
غوږ سـه اوس به واورو نوې، نوې کيسې رنګ په رنګ

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

(شاعر ملنګ)

اورئ !د اوبو غږ راځـي لرې څوک شپېلۍ وهي
هــلته د ګودر غاړه کې غلې څوک سـلګۍ وهي

خدای ته د ســـــندرو په دعا لاســونه ونیسئ
دې د اوبو غـــــږ ته د خیال غـــورږونه ونیسئ

دا د اوبو غږ نه دی د مـــیرې د حـــــال ژبه ده
ســـــوی اسویلی دی د نیمګـړي وصال ژبه ده

راسئ دې ګـــودر ته ځیر سئ دا رڼه هینداره ده
تاســــو چې منزل ته رســوي دا هغه لاره ده

دادی انځور راغی اوس نو تاســو ننداره کوئ
پو په یو ها نورو ته ددې ناورین کیسه کـــوئ

***

(راوي)

پیره وینې دغه د شـــاعر ملـــنګ هینداره ده
دغـــــې رڼې پاڼه کــــې دنیا د راز په لاره ده

دا مو د شـــاعر ملنګ د خـــیال رنګینه ژبه ده
وایي چې اوس مـــیره مو پرته په کومه تبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د راوي ملګرى)

دا خو کوم زیارت دى ښکاري مړو سره سر سولو
لاړلو آشــــنا خپله کیسه خاورې په ســـر ســـولو

(راوي)

څه چې ورننږدې سو ښـــکاري دا د راز سرغوټه ده
هر څه چې دى دلته د ســــــــرو زرو ډکه موټه ده

دادى انځور خپله رانږدې سو د اوبو غږ ســــــو
اورې؟ د کوم چـــــا د ننواتو او توبو غـــــــږ سو

(د راوي ملګرى)

دا خو کوم ملنګ دى ګوره څه په دوړو خړ ښکاري
ســـــم دم دوزخي دى د دنیا په مخه پړ ښـــــکاري

***

(خړ ملنګ)

راغلئ بختورو، زما ســـــترګې خو هم ځلور ګړلې
دا د دنیا شـــــپې ورځې مو ماته ســـم په اور کړلې

(راوي)

ته څوک یې او موږ ته په څه ســـترګې په لاره وې؟
ښـــــــکاري چې راتګ نه مـــو خبر لا وار له واره وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(خړ ملنګ)

زه د ګناهونو پېټي لاندې ستړی، ستړی یم
سم کنډر، کنډر کلی یم خړو اوبو وړی یم

ما سپک د ښایست ښاپېرۍ سپکه یاده کړې ده
ما د بدمرغۍ کړزه ډېره ښاده کړې ده

ما شرنګ د بنګړو ترنګ د سندرو غلی کړی دی
ما د بېلتانه د شیطان هر حکم منلی دی

زه سر په دنیا د دوزخونو اور لړونی یم
زه بس د تور سرو سر ته سم د اور پړونی یم

(د راوي ملګری)

ورک سه سم خنځیر یې ستا اورمېږ د ماتولو دی
زه یاره دا خړ خو له خبرو نه وتلی دی

(خړ ملنګ)

تم سئ خدای ته ګورئ زه د هغه راز سرغوټه یم
تا سو یې چې په لټه کې یئ زه هماغه موټه یم

راسئ چې د میرې خورکۍ ټوله کیسه تېره کړم
ګوندې که لږ څه ها غم لړلې شبه هېره کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ډېر ښه مې یادېږي یوه ورځ پلار ځان له وغوښتم
ویل یې زویه غواړم یو درانه څه کې دې وپوښتم

ما د چمتووالي ګونډې غبرګې پلار ته کېښودې
سرترپایه غوږ سوم د دنیا ناندرې مې پرېښودې

پلار ویل وایي چېرته که منې د ونې سرې سولې
پوه سه چې بڼوال ته رابرسېره اندېښنې سولې

دې ورځو کې زما په زړه هم سوچ کېږدۍ وهلې ده
ځکه چې زما د بڼ میوه هم رسېدلې ده

خدای سته زویه نور له مرکو نه ستړی، ستړی یم
د غو رېبارانو نه بس پوزې ته راغلی یم

وایم چې راځه پدې په هاغه آمنا وکړه
بیا هم ټکنی سم زړه مې وایي نن سبا وکړه

غواړم دواړه نن دغه دروند پېټی دروند راښکته کړو
خیال سره شریک کړو سم منزل ته د لار لټه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وایم پلاني او پستانکي خان نه یې واړوو
دا د شاتو پېتې د (زمري) په وره کې واړوو

ته څه وایې زویه دا وروستې خبره ومنم؟
ستا په اند مانې نه دا کېږدې په نره ومنم؟

ما ویل پلاره سمه ده زما هم درسره هوکړه ده
ښکارې زموږ مېنه کې بس دا د خوښې زوکړه ده

مور مو هم له دغه نیول سوي هوډ خبره کړه
ورو، ورو مو خبره د خوښیو رادبره کړه

مور ویل داسې ښکاري کومه ټکه رالوېدو کې ده
زړه مې هسې شین دی دا ښادي په نه کېدو کې ده

ښکاري لارې ببله سوې ککې کجل نه بیله ځي
میرې ته څه پېښ دي له همزولو ډل نه بېله ځي

ډېره موده کېږي سندرماره لور مې غلې ده
ښکاري چا په غلا ترې د سندرو دلې وړې ده

زه به د لورکې د زړګي خوښه رادبره کړم
څه چې ورته پېښ دي له هغه به ځان خبره کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور د خپلې خوښې پاره لږ موده غوښتلې وه
پلار ورسره دغه موده درې ورځې منلې وه

لا دوهم ماښام وو چې مې پلار دېرې ته وغوښتم
څه وو؟ پلار غصه وو، یربدلم چې ترې وپوښتم

غږ سو کېنه، ما ویل کوم کوهي کې څوک زګېروی کوي
خدایه خیر کړې بیا مو په خوښېو څوک تېری کوي

پلار سر راچت کړ دواره سترګې یې سکروټې وې
خدای خبر له کومه رالوېدلې کومې ټکې وې

شونډې یې ورو وښورېدې ویل یې چې بې پته سوو
نور د نارینتوب له مستانه آسه راښکته سوو

لږ که چېرې تم سو دا خبره ډنډوره نه سي
دا د بې ننګۍ خبره مو خلکو ته ښکاره نه سي

لاس او پښې مې سستې سوې وانې مې تښتېدلې وې
هک پک ومه واکې د خبرو رانه تللې وې

پلار ویل دغه سپکه ننه شپه له دنیا تېره کړه
نښې نښانې یې د عالم له ذهنه هېرې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به له دې کلي له دې سیمې پښې سپکې کړو
چېرته کوم راغه کې به دا پړې څېرې پټې کړو

خور دې درته ښیم چې یې ښه ګلان کړلي دي
هرڅه دې ناولې د ګناه په تول تللي دي

چېرته به یې د څېرمه ځنګله څنډو کې مرداره کړي
دغه د پېغور ناره به ګونګه کړې کراره کړې

سترګې مې تیاره سوې آسمان تندر مځکه اور سوله
خپله نازولې خور مې نښه د پېغور سوله

بس هماغه شپه مې په مرۍ چاړه ورتېره کړه
ها مسته هوسۍ مې بېګناه له دنیا تېره کړه

بله شپه په خوب کې نازولې میره راغلله
ما ویل کومه حوره د جنت له پیره راغلله

غږ یې کړو لالا تا خو به یو واري پوښتلې وم
پته به دې کړې وه چې ولې که ناولې وم

دومره به دې پوښتې وم چې ولې غلې، غلې وم
څه غم کو مې ستونځې د ګونګو په بند تړلې وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا خـــو مې لا ډکې له ګيلو ســـــــــترګې ونه لـــيدې
تا خـــو مې د ننګ او د پښـــــتو ســـترګې ونه ليدې

بس شـــــانه دې ســـم په پسته غاړه چاړه تېره کـــړه
ســـم د مځناور سوې د خورکۍ مينه دې هېره کـــــــړه

مـــــا به درته وېلې چـــــې لالا خورکـــۍ دې ولې ده
هســـــې بېګـــناه د کـــوم تهمت غشي ويشـــــتلې ده

دا چې تا ګـــــناه ګڼله زه يې خـــــپل قســـمت ګـــــڼم
ښــــه او بد دا ټولـــــې بس ترلــې پـــــه نيت ګـــــڼم

ما به درته وېلې چـــــې لالا کلـــــکه رنځـــــــوره يم
نس کـــې مـــــــې دانه ده لــــه دې شــــرم نه تروره يـــم

ما او تا خــــو دواړو په يوه تي خولګۍ ايښـــــــــې وې
دواړو د حـــيا مـــــزله کې خپلې پاپۍ ايښـــــــې وې

دواړه ماشومتوب کې پښـــتنې ابۍ ترلې وو
دواړه د پښـــتون پلار پښتنې مينې پاللې وو

هې ارمان پښــــتونه تا به يوواري پوښتلې وم
ځومـــره که ناولې وم تا ولې به غوښـــتلې وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس که لږ غیرت لـــري نو څـه کفن راوبښه
لویشت قـــبر، یو څلی څه حـــیا د تن راوبښه

سم مې له سهار سره خورکۍ په عزت خښه کړه
سیمه د قبره مې د ګـــــلاب په څلي نښه کـړه

بس له هغه وخته د خورکۍ زیارت کې دمه یم
خدای سته که شـــپه به له دې ځور نه بېغمه یم

***

(راوي)

پیره دا څه تریخ پای دې کیسې ته قسمت ورکړلو
لاس یې هم ونه رپېده چـا چې د کړو کر کـــړلو

خدا یږده څومره میرې ددې وچ غیرت خوړلې سوې
خدا یږده څومره ښکلې سندربولې لاړې غلې سوې

څو به په بېځایه ننګ ګلونه رنګ په رنګ سېځو
څو به په سرزوري ضد ګټلی برم د جنګ ســـــېځو

څو به لکه مچ د پښـــــېمانۍ لاس په تندي وهـــو
څو به وچ ګودر ته تشې باتې د منګـــي وهـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې د داسې میرو درونـد آزار په غاړه ګرځوو
ځکه د غړانده لمبو هـار په غاړه ګرځوو

خاورې به مینده نه سي چې سر باندې یې وشیندو
مځکه به پیدا نه سي چې قبر پکې وکیندو

دا چې آسمان نه رالوېږي دوا د کومې ولې ده
ورونه چې پړ نه غواړي د هغې پاکې جلې ده

زمورږ میرې خو آن په مرګ زمورږ د پګړو پت ساتي
دا آغلې نجونې پت پښتو لکه آیت ساتي

د لړم ۱۷ مه ۱۳۸۵ لمریز لېږدیز کال



(c) ketabton.com: The Digital Library

برښنا لیک

قســـم دی هـــا زړه ونه مې زښـــت ډېره یادیږي
چې مــــور به ویل پیریان پکې جرګې لره ټولــــیږي

چــــې ما او تاته جوړه ترې د میني ســــــــیپاره وه
د توت هــغه شـــاغوټه چې له لــرې راښـــکاره وه

ترې لاندې مو چې ټکنده غرمــــه کې مېلمستیا کړه
شړومبې به تا راوړې وې او مـــا به ډوډۍ غلا کـــړه

ادې به په نارو د ډوډۍ خـــورئ ســـوه سترې ســتړې
خو زموږ نه د نانځکو کــــورکي وه لــــوږه وړې

هـــغه ورځ دې یادیږي چې په ســرو سترګو ژړل دې
مــــېره مې دي نانځکـــــې رانه پټــــې دا ویل دې

ســــپېرو چاودو غومبرو کې دې اوښکې لارې، لارې
زما نه یې ورکې کـــړې وې ماشـــومې لارې چارې

ما پړنګ وهــل او غبرګه مې له تا ســـره ژړا کـــړه
"سلګۍ" ســــلګۍ، سلګۍ کې مې د ستا سره سلا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چې نن پخپلو کــــې نانځکې ســـره وکــړو
شاګی او ناوکۍ به ســو او نور به څـــه او څـــه کـــړو

سلګۍ دې سولې غلې نرۍ شونډې دې موسکۍ سوې
دوه ســـــترګې دې باران باندې نمجنې توتکۍ سوې

ســـتا هوکړې سره سم مې ویل چې ځم بېرته راځمه
د ګل بابا له بڼ نه دنداســـه درته راوړمـــــــــه

په لارکې مې له کــــوره ستالفۍ کاســه کړه غلې
کې تشه مې کړه ټوله د بېګا شـــپې خیشته کــړې

تا سرې په دنداسه کړې شونډې تورې دې وې سترګې
زما مخ ســــپېره مېره وو ځلېدلې پکــې ســـترګې

بیا څنډه د ټیکري دې اننګـــــو باندې کـــــړه تېره
پدې دې ماته یاده کــــــړله چـــاره رانه هـــېره

لســــتوڼی مې په ناړو کړ او مـــخ باندې اخته سوم
ما ویل چې اوس به خومره ښایستوکی او سیکه سم

تا کړس خندا کې ویل مخ دې تک سور لکه بیزو ســو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل ګوره دا ســـتا خو لکه حسن د درخو ســـو
جـــوړه مو جـــوړه نه وه لا نګریزې خیشتې نه وې
ســـــندرې لا پیل نه وې او چا ډزې کـــړې نه وې

هلک نری چـــنار ته لا یو څـــه مـــهال وو پاتــې
چې یونا څـــا په غږ سو ، خدای دې ورکه کړه میراتې

مېره دې په کوڅیو کـــې منګولې کـــړلې خنبـــې
زما په ســـر او ډډو یې هـــم څپېړې کـــړلې یخې

همهغه مو بېلتون وو چې دا نن یې شـلم کال ســو
جومات کې مو د مینې چې د بره ســـپېره دجال ســو

اوس ښـــکاري چې دجال، د عشق ولیانو دی شـړلی
د مینې شـــپېلۍ نه زده، ښـــا پېریانو دی شـــړلی

ها تېرې ښې شـــېبې لـــکه پرون غـونډې رایادې
ته وایه ســـتا یادېږي که هـر څـــه دي درنه پاتې

کېدای سي بیا دې هو کـــړي سره بېرته راژوندۍ سي
ها غلې او ماشـــومه مینه شرنګ وهي شپېلۍ سي

منم چـــې دا یورپ دی خو زما ســـــره لا سته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه داسې دنداسه چې د ها تېرې نه ښایسته ده
یوه د غزل ټوټه سپاره زموږ د مینې
کې نغښتې ده ما شومه نندار ه زموږ د مینې

راځه چې ها ما شومې دنیاګۍ ته بېرته لاړ سو
دا دنګې ماڼۍ خوشې کړو کیږدۍ ته بېرته لاړ سو

خبر یم ها زړه ونه لا دنګه ده لا شنه ده
خو پرته زما او ستا نه یې ښایسته بشره سپېره ده

د کډې آس مې زین دی د دوهم وري په تمه
بس تم یم که په لور د وطن ځې راسره سمه

***

شپې سولې کلونه برېښنا لیک ته په کتلو
ځواب کې دومره ځنډ سو چې مې ساه سوه په وتلو

موده د انتظار که څه اوږده وه خو خوږه وه
بس کټ مټ لکه سوځنده تودوخه کې روژه وه

ځواب کې مې سلګۍ، سلګۍ تر لاسه کړې سلګۍ نه
په برخه مې یوه نوا هم نه سوه له شپېلۍ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمکۍ ژبه د مينې مې ماشـــــومه ګونګۍ ښــــه وه
له دې چتې سـلــــګۍ نه ها ســـپېره ناوکۍ ښـه وه

د وري ۲۲مه ۱۳۸۵ لمريزلېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر ښاپېرۍ

کله چې آســــمان کې سترګکونه وهي ستوري
کـــــله چې په پاڼو د ګـــــلابو پرښـــــه اوري

کـــله چې له لرې د شپونکي د شپېلۍ غږ ســـي
کله چې ګاونډ کې مو د چا د ســـــــلګۍ غږ سي

کـله چې کــــوم څوک ډېوه په لاس رڼا کې وینم
کــــله چې د مور پسې ماشـــــوم ژړا کې وینم

کـــــله چې پلو کې څوک د مات منګي کـــودړي
ژړ، ژړ ټولوي او په غاښــــــونو چــــیچې زړي

کله چې ســـــپېرې پښې د چندوړي کړې ګـــامونه
کله چې څوک وار ته کړي دوه لاســـــه سلامـــونه

کله چې ټالۍ وهي ماشــــوم د اوښ په بار کـــې
کـــــله چې چا لاره ورکه کـــــړې يي په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــله چې څوک اوښ په بډه کړي ســــــره له باره
کــله چې څوک لور ته شنه بنګړي راوړي له ښاره
کله چې د دار په ســـــتنه څوک وهي څرخــــونه
کـــله چې د ســــــر په بیه سي د خـــوله نرخونه

کــــله کومه پېغله چې غلطه سي ښــکنځل کې
کـــله چې ســـنځل ګل جینۍ وتومبي اوربل کې

کــــله چې ماشـــــوم رېبار خبر دوه ځلې وايي
کــــله چې شاعر کومه کوچۍ ملکه ســـــتايي

کــله چې د پېغلو جنګ سي سپېنې لېچې اوري
کــــله چې په لاس د وږمې ښکلی اوربل ښوري

کـــــــله چې کجیر وهلې زانه خوب کې راسي
کـــــله چې د چا د مینې هیله نیمه خــــوا سي

کــله چې شیدو پسې وچ موری ماشــــوم ژاړي
کـــله چې څوک چا نه سپینه خوله په نره غواړي

کــله چې کوم سیند له وچکالۍ سي لارې،لارې
کــــله چې د چا شـــونډې سي ولې په مرداري

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو چې کـــوم غزل کې سې ښـکاره تر هغه پورې
بس زما د شـــعر ښـــا پېرۍ ته مې په زړه اورې

د غوايي ۱۳ مه، ۱۳۸۵ لمريزلېږد يز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دود

زړونو کې درزا سوه چې د آس د ششنېدو غږ سو
والوتلې بڼې چې د ورا د رسېدو غږ سو

سترګې د نتکۍ د باز ليدلې توتکۍ په شان
داسې رپېدلې لکه باد کې د کيږدۍ په شان

هغه وخت ورياد سو چې يې تره “غمی” وژلی وو
وروسته له جرګې يې قام پدغه سلا سوی وو

بدو کې نتکۍ به زوړ چنار ته ورکوي تره يې
ظلم دی کبلۍ به خوله د مار ته ورکوي تره يې

دا خواره ميراث وه او د دود په بند تړلې وه
بس يوه روانه جنازه وه غم لړلې وه

مياشت وروسته ها زوړ چنار د مرګ په سېلۍ پرېوته
تور د کونډتابه شال په کوژدنه نتکۍ پرېوته

اوس دغه ميراث کبلۍ “انار” ته ودوي تره يې
وينې د “غمي” ددې په نذر پاکوي تره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواره ناوکۍ وه لکه پاڼه رېږدله چې
ښه د ګل غوټۍ وه شېبه وروسته رژېدله چې

څانګه یې په یاد وه چې په بدو واده سوې وه
کال وروسته واده نه له وهلو چې مړه سوې وه

پټه خوله وه ورا ناوې پخبلو پښو روانه وه
جوړه جنازه وه چې په سرو لمبو روانه وه

***

زوم وو له بهر نه را روان د وطن لور باندې
دې ته وو په لاره چې دعا وکړي په ورور باندې

وروسته رسېدو نه د دعا په ټغر کښناستو
دود سره څو ورځې د ژړا په ټغر کښناستو

دې ټوله موده کې په ننتکۍ د بدو وار نه وو
خوار تنکۍ زړګۍ یې ستغو سپورو نه کرار نه وو

ویر موده پوره سوه یو ماښام وو چې ور وټکېد
وروسته بیا کوم څوک نږدې کوټې ته په زور وټوخید

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه د نتکۍ وښـــــــويېد د مرګ خوله پرې راغلله
لښـــــــته د ګـــــــلابو رپېده څېله پرې راغـــلله

ســـــــر باندې يې د چا د تاوده لاس تودوښه پرېوته
نور په ځان پوه نه ســــوله په درز بې هوښــه پرېوته

کله چې په ســـد ســـوه نا اشنا غوندې مالت کې وه
داســـــې ورپه زړه ســـوه ګڼي مړه وه په جنت کې وه

هکـــــه پکـــه پاتـــــې وه د ذهـــن يـې وزر نه وو
هرڅـــــه بدل ســـوي وو په ســـترګو يې باور نه وو
***

غـــېـ ســــو زه انار يم ته زما د ژوند ملګـــــرې يې
ســـــمه ده چـــې قـــــام ماته په بدو کې راکــړې يې

زه به تا هېڅکـــله ســـــتا د تره په بدو نه نيســـــم
دغه ناســـم ســـوي دود نه سترګو کې بس ښه نيسم

دا بـــد نه دی دا د بـــد مـــينځـــلو يـــوه لاره ده
کـــرکه په الفت چـې بدلـــوي دا هـــغـــه چـاره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دود خـــو ســـپین روبو زموږ ولی دود مـــنلی وو
مـــوږ وو چـــې دا ولـــی مو ناولـــی کارولـــی وو

ګـــوره چې پښـــتو کې ستا پلو څومـــــره ښاغلی دی
اور د دښمنۍ ورونو کې وژني څومـــــره ښـــکلی دی

ځکـــه زه ګـــڼم د نور لـــــه کلـــي نه راغـــلې یې
وینه چـــې په مـــینه مینځي ته هـــغـــه آغلـــې یې

لاس را کـــــړه ملګرې ولی دود مو ببرته ولی کـــړو
دا د دښـــمنۍ او دا د بدو غـــږ به غلـــی کـــړو

راســـه چـــې په ګـــډه دغه هـــیله او اند وروزو
بس په مـــینه مینـــه دغـــــه داغ لـــه زړونو وتوږو

ته ماته ډیوه یې پرښـــــته یې مـــینه مینـــه یـــې
ته لکه کـــوتره د ســـخي د زیارت ســـپینه یې

راســـه او زموږ زړونه هم ځان غوندې سپیڅلي کـــړه
نور د ســـتغو ســـپورو د بدل غږونه غلي کـــړه

راســـه زما د عمـــر غلي کـــړکي ته نوا ورکـــړه
شـــرنګ یې کړه شپېلۍ کړه دې مړه ژوندون ته سا ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځــه چې بې له مینې نه بل څــه ته ځان وزګار نه کـــړو
دا نیمګـــړی ژوند له هېڅ او هېڅـــه ځني ځار نه کـــړو

د وري دیرشمه ۱۳۸۵ لمریز لیږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلزله

د زړګې کور يې را ويجاړ کړ زلزلې غونډې ده
دا زما مينه د کابل تېرې کيسې غونډې ده

چې لاس وروړم ريږدي رپيږي له رڼا جوړه ده
هر ځل له تېر نه لا خوږه سي د توبې غونډې ده

لکه درزا مې زړه کې اوسي نور مې تېښته نه سته
آن په لمانځه کې مې غلط کړي د کعبې غونډې ده

ته وا بې مينې جوړې کړي دي دوزخ ته لارې
زاهده ماته د ګلونو د لمبې غونډې ده

دومره نازکه ده چې آن وږمه پرې ورو چليږي
له وېرې ګوتې وروړی نه سم د ښيښې غونډې ده

د وخت منګل کړه هديره د ګربوان لارې، لارې
وروستنۍ اوښکه مې بې ګوره جنازې غونډې ده

تورتم کې ورکو مسافرو ته چې لار ورښيي
دغه سپوږمۍ نه ده دا بالکل د هغې غونډې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملــــیاره خـــــــدایزده چې دا ګایه به ګلونه راوړي
بس تشه باټه ده ددې مــــــهال جرګې غــــوندې ده

د لیندۍ ۱۲مه ۱۳۸۴ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیتونه

خدا يزده كـــوم كجير دغه كـــوتره ځـــورولې ده
چا يې د غـــزل غـــوندې ښـــكلا ورانه لوستلې ده

دا خـــو نګه شـــرنګ نګه نغمه نګه ســـندره وه
خـــداې خبر په څـــه دغـــه بلبله غلـــې غلې ده

***

ځئ چې د ټوپک شـــپيلۍ کړو ماته د شپېلۍ په غږ
زړې د خـــندا وکـــړو پاڅـــو د لـــنډۍ په غږ

***

ګوتې وروړی نه سم چې نازک حسن يې ړنګ نه سي
دغـــــه نازولــــــې د ګلاب پاڼو کـــــې لويه ده

***

قند خـــــوږه د خـــولې د سوال ســـره تروه سوه
نارنجګله له حـــيا سپينو کې ســـره ســـوه

چې تر غوږ يې د کابل د بلبل غـــــږ ســـــو
په کوچي لالي کيږدۍ غوندې خـــوره ســـــوه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څــــه هم چې بې تېغه به جهان په وينو رنګ سي
خـــو بيا هم که راوګورې احسان به په ملنګ سي

***

څـــــو مې زړه د صبر په تار وګنډه
ســـــر نه مې د مينې خمار وځنډه

ووت تورو خاورو نه رېدی سو جوړ
هرڅــــه مې خوړلن په ايرو ومنډه

***

بيا مو يو ستوری د ادب له روڼ مداره ووت
د عاطفې ســـــرتور ملنګ مو له کتاره ووت

د مراد پيڅکي يې رپيږي د پښـــــتو په ولي
ټوکلی زړه ســـوی ځيګر له دې مزاره ووت

***

ښــــکلې شوخ نظـــر دې د حيا له تيکي وباسه
مخامخ راوګـــوره د زړه چـــــنار پرې ووله

ســــره اننګي ټاپی کـــړه د زلفو مچينوزغې ته
سپينه خوله دې ګاټی کړه ملنګ مليار پرې ووله

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

سپین کمیس د حـــیا ناوې چـــا په وینو لمبولې
که کوډل کې دې د سترګو پېغله اوښکه وير وژلې

د لېمو حبش سرتېري دې مورچل کې ويده ښکاري
ګرد چا پېر ســپینه خزه يې سرو لښکرو ترې نیولې

***

لا مې د سترګو په نغلو کې دومره اوښکې سته دي
چې دې د مخ کابل په ځـــل د رڼا ولمـــانځمـــــه

***

د زړه نغلـــــــو مې چا په غشو د بڼو ويشتلی
د مخ کابل مې د رڼا نذر له ســـتورو غـــواړي

***

د ستورو کور مې له شیطان څراغ نه نذر غواړي
د مخ کابل ته مې د زړه له نغلو نور نه رســـــي

***

ددې نتلي زړه کلـــه هیریږي ترمـــې اوښــــکې
څک، څک د کور په بام يې راڅڅيږي ترمې اوښکې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېلمه، مېلمه بانه دي لړ پـه وار رالېږه زړه تـه
کـوربه تـه خــــــو لړ وار د هرکليو ورکــوه تـه

***

کغ کړي ببره سي چې لاس وروړم
ليلا د کـړوکې چرګې لوبې کوي

***

ډېره موده سوه چې مــــو ځنې غورځولې ندي
د اتڼ دوړې مو آسمان تـه پورتـه کــــړې ندي

راځئ چې دا ښادي شريکه کـړو پـه مستو ټپو
قسم بې تاسو د محفل شيبې مو ښکلې ندي

***

هـــــر کله راسئ ما لېمې دي غــــــوړولي لارکې
اې ښکلو ستورو را مېلمه سئ نن د نور پـه ښار کې

***

ځان نه مې بد راســـــي لـه خپلې تندي وشرمېږم
چې دې پـه سرو شونډو د خپلو شونډو داغ ووينم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازکې په خــورو زلفو دې وار د لوبو راکـــړ
کمکی یم دم مې نه زده دا منګري به تس راکړي

***

خوږې ګناه ملـــیار دې څه کوي او څه دې ساتي
ملا ته په لاس ورنه سې چې یو ځل به دې ګرت کړي

***

ما درته نه وېلې چې مـــه راکـــوه زلفې په لاس
دا ملا وزمه زړه مې شونډې له پېزوان سره خوري

په ښـــکاره جام، پټې توبې ماتوي نور څه نه کړي
بس یو همدومره دی چې هرڅه د قران سره خوري

***

یو څوک دی جام ښکاره او توبې پټې ماتوي
د حـــسن آیینې روغـــې رمتې مـــاتوي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چم نه د ســـپین روبو دې نیمګړې توبې وویستم
ته خو خدای وهلی وې زړه زه دې له ښې وویستم

تا باندې خـــــو زهد لا د مخه حکم کــــړی وو
زه تورن له دې توره د ښــــــکلو جرګې وویســتم

***

که چېرې ســـــم منګی چا په کودوړي بدلولای
نو مــــا به د اوس هرڅــه په چیندوړي بدلولای

له پیله که د سترې څوانۍ سترې راښکاره وې
قـــــسم دی دا پیچومې مې په زوړي بدلولای

***

دا دی له تندې به بېغمه ســـــو او جام به اخــلو
مینه وروري به پالو یو د بل ســـــلام به اخــلو

د زه او ته تغر به تول سي ځای به یي موږ ونیسي
نور به څـــوک نه وایي چې هلئ انتقام به اخــلو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې نګه ګل سه چې د شعر په شـــور مې پوه سې
شرنګ وهه شپېلۍ سه چې په ټنګ تکور مې پوه سې

غاړه غړۍ راســـه چې د عشق په زور مې پوه ســې
خدای دې کـــــړه مینه چې د زړه په اور مې پوه سې

***

سو به د پښتون زړه بس د سترګو په جنګ نه سي
هسې په موســـکا باندې چاره د ملنګ نه سي

سوې وچې شونډې به له سواله په څنګ نه سي
څو چې سر تر پایه ستا د شونډو په رنګ نه سي

***

زه نګه آمین یم خـــو که ته چېرې دعـــا سې
ټول غــــزل، غزل یم خــــو که ته را ته نوا سې

دار ته دې منصور یم خو که ته ښکلې سـزا سې
زه به لولپه سم خو که ته چېرې ګنګا ســــې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې پاس په زنه ولې سپين خالونه نه ږدي ؟
ځکه چې ساده مومن ته څوک دامونه نه ږدي

راشه زموږ د ونو په لاسو کې غوښې شنې دي
چا وېل مســـلمان ته مسلمان بمـــونه نه ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې ډالۍ

ليلا زما د مينې ډالۍ ځان سره ساته
په دام کې رانېولی په ايمان سره ساته

د ښکلي مخ په پاڼو دې کوم بد نظر پرېنوځي
سرې شونډې روو سترګو نه پېزوان سره ساته

د شوخ ياغي نظر سره وربښمينه حيا ښايي
بس هر وختې شيطان له مسلمان سره ساته

د نرمو شونډو بيه له يوه سره وانوړي
د تېرې شپې واده دې د جانان سره ساته

د مرغومي دريمه ۱۳۸۵ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

چل

جنګ د تروږمۍ ته څو رانه ودروئ
دې د وخت لیوانو ته شپانه ودروئ

سیال به سئ د سیالو سرکتار به سئ په نره
بس یو وارې دغه پښتانه ودروئ

دا لیونی زړه مې تل د سترګو جنګ ته کاږي
مړ چې سوم په قبر مې بانه ودروئ

دا ولسواکي نه ده دا ښه چل د تالان دی
څو ګونګي، څو روي، څو کانه ودروئ

د سلواغې اوومه ۱۳۸۵ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په مست حسن چې سیوري د زیړي مازیګر خپور سي
هرڅه غزل غزل د تخیل هنر مې نور سي

تور خال یې د نرۍ وروځو ترمنځ مینان بولي
کټ مټ لکه بلال چې د آذان په وزر سپور سي

دې میرې دښایست ته برخې داسې څه ورکړي
په لید به یې د حسن انځورګر خپله انځور سي

که چېرې دې ښایستوکې نه پلو له مخه پریوځي
د ډېرو د ککیو راڼه ستوري به تک تور سي

د حسن خدایه داسې څه ورپېښ کړې ویش د مې ته
چې زه په جام نسکور سمه یا جام په ما نسکور سي

قسم دی د ملیار په شان به وربې ټول ماړه سي
که چېرې د حسنونو ذکات ویش دلته کې زور سي

د سلواغې لسمه ۱۳۸۵ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څه ووایم ستا مینه کې څومره کړېدلی زړه
پښنه وه د سترګو خو په غشو لګېدلی زړه

تېره شپه یې بیا له ګړنګونو غورځولی وم
څومره په زاریو مې له جام نه ګرځولی زړه

هره شپه په ما پردۍ برستنې لټوي روی
څنګه چې سهار سي بیا له لوړې بوټ وتلی زړه

شیخه ته او خدای که به رښتیا راسره نه وایې
ته هم ورته پړ یې که دې چېرته دی کړلی زړه

خدایه که دا حسن دې په یو ځای کې غونډ کړی وو
ولې به شینګړ وو ور په ور به ګرځېدلی زړه

سترګو کې یې ساتې نازوي یې په سرکو شونډو
دا سې ښا پېرۍ باندې ملیار ملنګ بایللی زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خبر سوم له دې وروسته به خیرات ورکوي ښکلې
هرکال به د ښایست په تول ذکات ورکوي ښکلې

الله دې خیر کړي بیا کوم د خالونو راوي مړ دی
چې نن غوټۍ غوټۍ خندا په سخات ورکوي ښکلې

اشنا دې پسرلي کې د سخې مېلې ته نه ځو
همدلته د خوږو شونډو نبات ورکوي ښکلې

درځه چې دا د سر بیه ورپرې کړو ساده عقله
بدل کې یې د شونډو ماله جات ورکوي ښکلې

د مینې خدایه داسې زیرى داسې څه رازده کړه
و کوم ته چې د شونډو سر سوغات ورکوي ښکلې

ویرېږم چې ساده کوږګی مې بیا بدرنګه نکړي
د سر په بیه ورد سومنات ورکوي ښکلې

ملیاره ترېى زړه دى د ازل وږى موړ نه سو
د حورو چم که څومره سات په سات ورکوي ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چېرته که د لوی انځورګر سـتر ګې په تا پرېوځي
هیښ به سـي چې دا د حسن لمر به په چا پرېوځي

هر توری یې ماته بس دعـا د پیر بابا ګـرځي
کله چې دې سرې شونډې لیلا په ښـېرا پرېوځي

ښه دی چې سـندرې نه درځي تا ښایست میرې ته
سـتوني د شـپېلۍ نه به آیت د نوا پریوځي

نه چې سـتا له لاسه بخته بیا روژه په خـوله سولم
ویره ده سـپوږمۍ د دې اختر به په ما پرېوځي

سـتا وینا ملـیاره ډېرو پړو نه زیندۍ اخـلي
کټ مټ لکه غـږ د معافۍ په سـزا پرېوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

سـیوری ته د لمر له څـانګو پاڼې غزېدلي
تا چې د کنډو له سـر نه ما ته را کـتلې

لارې لارې تللې رڼې اوښـکې دې په ښکلي مخ
چا دې د ښایست سـپېپاره ورانه وه لوسـتلې

زما نښې د شـونډو وه او سـتا د غاړې کرښې
څـکه سـپینې پاڼې دې د حسـن رپېدلې

آن د شـونډو پل ښکارې په سپین نازک بدن دې
خدای خبر د حسن خاوند څـه کې یې مینځلې

سـتا له برکته ډیر په سپینه زیره مست سـول
اې د نشې میرې ته له کـومه یې راغلـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په خوب کې ښـــاپېرۍ وينم ديوان مې ويښـــوي
بس شـــونډې رانږدې چې سي پېزوان مې ويښوي

چې ســـم جوړه ګومبزې د ژوندي زيارت سي ډډې
رامات مې تاويزونه ســــي پېريان مې ويښـــوي

ښـــکاريږي له ګلمخو نه همدغه مې قسمت ســـو
چې واورو کې ويده ســـم او باران مې ويښـــوي

زاهده ســــتا په دم مې په ياغي زړه څـــه ونه سي
ښـــيښه چې چــېرته ووينم ايمان مې ويښـــوي

له کـله نه چې مـــــا د زړه مــــــنلې ور ته پړ يم
ويده په اوداســـــه سم خو شـــيطان مې ويښوي

رندانو راته وايئ شـــېخ چــړي اوکه زه ګـــرم يم
چې ســـــم په جــــام ورپريوځم آذان مې ويښوي

ملـــــياره يو څو پاڼې د سنځل ګل ورته ښې دي
دې درد ته چې ريښې، ريښې ګريوان مې ويښـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د خـــیال په ترې للمـــه مې وریږې غلې غلــې
یوه د هســــکو میره د اوبو په شــــانې ولې

څـــه نغوته ده د مینې څه غـــزل څه توتکۍ ده
څـــه دنګه ســارانۍ کوچۍ کیږدۍ نه راوتلې

هغـــه چې تش په یاد یې زمـــا ژبه سې آغلې
بس کټ مټ د ماشوم مینه ده دومره ده سپېڅلې

احـــساس مې د غـــزل راتخنوي د ناز په ګوتو
په زړه مې ورووي د پاس ګـــودر د غــاړې ولې

په کومو کې چې زانګي لیونۍ شـــپې د مینې
هغه چې دي د مستې غنمرنګې په رنګ ښـــکلې

نو څنګه به د لمـــر په تاال کې نه زانګي نوا مې
چې داســـې ګلورینې نازنینې ده پســـوللې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولور

ښاپېرۍ ډېر ډېر مې زړګی تنګ دی
د ګودر غاړې پسې مړ مړ یم
دا چې زیارت نه دې بې برخې ګرځم
د مینانو خدای ته پړ پړ یم
سمه ده دا ځای د حسنونو جنت
خو پدې ښکلو مې چاره نه کیږي
دې کې د ستا د خولو عطر نه سته
پدې هوا مې ګوزاره نه کیږي
***
دلته رنګونه دي خوندونه دي ډېر
خو د حیا پسې مې زړه وتلی
تل مې خیال کې دا سې ګرځي ګلې
چې مې مین نظر په غره ختلی
چېرته کې لرې څوک شپېلۍ غږوي
د سوي زړه له تل بړاس باسي
ورشو د دنګې غنمرنګې جینۍ
د هر ځلمي د نظر آس باسي
***
ګلې زما تږې ستړګې تږې ګرځي
پدې بېشرمه جلال ډ کې نه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دې په خاورو باندې نه ډکوي
ځو ستا د ټنډې په خال ډکې نه سي
خو اوس مې ملا د همت ټینګه ساته
بس یو ځو نور رکاته نفل وکړه
لږ دی چې بیه د ولور پوره سي
نور د ببلتون کو ډله ورانه ښکاري
کډه مې بار ده دې نږدې ورځو کې
درځم په سرباندې دې شال اچوم
ماشومه مینه په بل ډول لمانځم
د زړه ځنار کې درته ټال اچوم
د پیربابا په توغ په خپلو لاسو
زما په نوم یوه ریبنکۍ وتړه
هلته کې لپه د دوا پورته کړه
زه به له دې ځایه آمین پرې وایم
بس دغه سوال کوه اوږده لاره کې
د لوټمارانو په داړه وانوړم

۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال د وري ۲۱ مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ته مې چـــې ليدلې يې د ژوند مـــــانا مې بلـــه ده
بس د زړه په ژبه مې دا ســـــتا د ياد بدلـــــه ده

شــــــکر ســـتا د مينې د آيت په اوبو ولی ســـــوم
ته مـــې چې قبله ســــې عقيده مې تل تر تلـــه ده

خدای قســـم په غلا يې خوند له شـــاتو نه تېری کـوي
ســـــره غوټه د شــــونډو دې خوږه لکه ســنځله ده

ټال کې د خيال ځکه څــــنار څـــنار غـــــزل زانګي
دنګې غنمرنګې قـــــد دې ســــــم د ګلو وله ده

يو ځلې مو پرېږده خـــوله په خوله سو بيا چې هر څه کړې
عـقله د تاک پېغله ډډې شـــــونډې کـــله کـــله ده

زه يې ونه کـــړم ته يې ونه کړې ملا خو لا پرې غوړ ندی
مـــينه دې دنيا کې پيدا کـــړې خدايه څـــه له ده

ســـــتا کتاب که مست د مينې شـــېخه چېرته پړ ګنې
پوه ســـه دا خـــوږه ګناه مې کـــړې څـــو څو ځله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې

لاره کږلېچ ده ګلې خپر دی یو څو ګامه راسه
مزل مې ستړی دی خو ګوره تر ماښامه راسه

پدې پوهېږم تر قیامته څوک د چا مل نه یي
بس دومره وکړه چې د ژوند تر وروستي جامه راسه

لا مو خبره په سلام کې ده ولاړه ګوره
سلام پوره کړه د ګډ عمر تر کلامه راسه

ملګرې ګوره تروږمیو دې زړګی تړلی
واده پوره کړه اوس راغلې یې تر دامه راسه

یو څه به زه په زړه کې تېر کړم ته آمین پرې وایه
یو څه دې ته نیت ساده کړه له ناکامه راسه

راځه چې تېر غوندې له یو بل نه ځار بړو ګلې
مرګی بڼو نه رانږدې ښکاري سلامه راسه

قسم چې ساء مې یې بې تا مې ګذاره نه کیږي
د مینې لمونځ مې قضا نه سي رون امامه راسه

د غوايي شپاړسمه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتيا

يوه خبرد نازولې ليلا
ښنو نه مې تاوه ده ځنځير غوندې
چې نن سهار يې راته وويلې
داسې مې بد ايسې خنځير غوندې
له هرچا هرچا مې ګنېله خو يو
له ګرانې مينې مې دا هيله نه وه
قسم چې زب زب ستړى ستړې يې کړم
داسې درنه وه د شوګير غوندې
ما ويل چې زړه مې ښه پر ځاى تړلى
له دې سودا به څه توښه وتلم
د ژوند انځور کې حقيقت وه راته
هغه هم تتنه سوه تصوير غوندې
که چېرته خوب يي د خوبونو خدايه
د دغه تور خوب دې لمن وسېځه
سمه سمسوره يې کړه رنګه راته
د رهبرانو د تدبير غوندې
د اوس لپاره مې توبه ده تربنه
نور به يې نوم په مينه وانخلم
خو لکه ساء مې ده د زړه درب مې ده
زه لا مريد يم که سي پير غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې خدایه له قلم دې ځار سم
ماته یې څه خوارږه رنځونه کښلي
ښکاري د ټنډې کرښې ورانې تللي
د خړ کابل سوي تقدیر غوندې
د ملاډوله دجالانو کړنې
او د نازولو دا نخره یوه ده
د مینې باز مې راته مړ ښکاري
د تور او سپین منځ کې تو پیر غوندې
هره ککره دې خپل اند روزي
هر څوک دې خپل خپل کوناتې ګروي
ښیښه مې خوښه ده قصاب خو نه یم
د ترهګرو د تکبیر غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پام کوئ شړې بېرته وړې نه سي
خدای مه کوه ډوبه مو بېړې نه سي

دومره مو په اور د کرکې مه سېځئ
بس دی سره سکروټه شنه نړې نه سي

خیال ساتئ چې دا خره جونګړه مو
بیا د کوم ښامارد خولې مړې نه سي

نه چې ګاړګوتي پیکي بېقدره سي
پام چې یې لیلام ټیک او دړې نه سي

ډېر ګرم به په وړه سزا ولمانځو
چېرته که نیمګړې دا لړې نه سي

زما د نظر آس به کې ونه تړې
څو چې دې زړه جېل زلفې کړې نه سي

عقله راځه یو ځل د زړه ومنه
ګوره درنه تېره دا ګړې نه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره يې د تورو په ځل ولمانځه
څو چې د رسره غاړه غړۍ نه سي

اخ به د ملیار د زړه ونه وځي
تاو دې له کمڅو لکه څړۍ نه سي

د غبرګولي شپږمه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

له مستو سترګو يې سودا پرېوځي
خدای خبر پړه به يې پر چا پرېوځي

ماته مې سوی تندی ښه مالوم دی
دا آسماني ټکه پر ما پرېوځي

نور يې په کړې ګناه ونه نيول
زما په سوچه ثواب سزا پرېوځي

ښکاري له موره يو تورمخي پيدا
چې تل مو برخه پر ژړا پرېوځي

موږه دجال ځان له امام نيولی
ځکه دعا راته ښېرا پرېوځي

جوړه کيږدۍ مو ستري وتري سوله
او د شپېلۍ له خوله نوا پرېوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

که چېرې سین نه یې په څاڅکي ګوذاره کوو موږ
بس او سپنځرې یو په ځک د زړه چاره کوو موږ

مه کړه قسم که به دې شونډې سلامتې یوسې
چا ویل ګونګي یو د نادودو ننداره کوو موږ

موږ مینان یو آن جګړه کې نوم د مینې اخلو
پیل هره چاره د ښایست په سپاره کوو موږ

خال مو امام دی د سجدې ځای مو محراب د وروځو
اودس په ډول او لمونځ په غږ د نغاره کوو موږ*

دا یو قلم لرو ښکر نلرو له زړه نازک یو
دا سې ونه ګڼې چې هسې نظاره کوو موږ

* له ډول شخه موخه د غزا ډول او له نغارې څخه موخه د وطن د آزادۍ لپاره پر دښمن د چلېدلې ماشینګڼې غږ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څوک چې د مينې مستي سر کې لري
د سـرښندنې اور ځـيګر کې لري

چـا چې وي عـشق لکه آيت منلی
په دې دنيا حـورې وزر کې لـري

زړه چې له هـره بريده اوړي پسې
ښـا پېرۍ دا سې څه نظـر کې لري

هلته که شـېخه يو څه ستا سره يي
غلمان به څـه شی په بستر کې لري

دا چې له شعره يې سـکروټې اوري
کوم ليونی ارمـان ټټر کې لـري

ته يې سـجدو او شوګيرو کې غواړه
ملـيار يې بس د زړه پرهر کې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

موري

د زمزم په شانې ولې
د زيارت غوندې سپېڅلې
ماته هرڅه نه آغلې
مورې ورځ دې بختوره

***

ته مې دم ته مې قدم يې
ته مې ژبه د قلم يې
اې نګه نګه سندرې
ته پايښت ته مې عدم يې

***

ته د خدای غزل يې ښکلې
کټ مټ ګل يې د سنځلې
ټول عالم ته نازولې
مورې ورځ دې بختوره

***

که دا ستا شوګېرې نه وې
دعا څه که ښېرې نه وې
که دې ګوانښ او سکونډل نه وو
د پښتون به دېرې نه وې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته له نوره يې راغلې
خداى په ښو يې ارزولې
يې زما زړه کې کرلې
مورې ورځ دې بختوره

***

اوس مې هم منډه تر تا ده
خوږه غېږ دې زما پناه ده
که دې چېرته زنګون نه يې
خداى ستهٔ ژوند مې ټول ژړا ده

***

ما له هر څه يې منلې
تا مې مينه ده پسوللې
اې زما د دمې ولې
مورې ورځ دې بختوره

د غبرګولي ۲۳مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مړي

د نور کوډله مې تياره، د رڼا نذر غواړي
خو د خواست لپه يې ړنده ده
او دا هم نهويني
چې د زړه سوي په نوم ګاونډ ورته د لمر پر ځای
شيطان ځراغ ورکوي
او د سيندونوله ها پورې غاړې
راغلې خړې خړې شوبلې
دا د سولې مارغان
ددې جونګړې زړه ته داغ ورکوي
خدايه تر څو به ستا د نور چينې په ما وچې يي
خدايه تر څو به شنه منګي رانه په نذر کې وړې
دا نذر پای لري که مور، مور مړي
بس بلهاري، ته هست يو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ته یې شــــمېره پیره څو روا څو ناروا کـــــوم
تور امــــام د خال پسې په مینه اقتدا کـــــوم

ښــــې زمــا د برخې د دوزخ لمبې غړاندې کړه
خدایزده شــېخه دا خوږه ګناه څو ځلې بیا کـــوم

د نګې غنمرنګې او د رز او ښــکې مې خوښې دي
څومره درته ووایم هم ها کـــوم هم دا کـــــوم

مخ غوندې دې ډېر له زړه نازک یم ښېرا نه راځي
ته مې په ځیګر وله او زه درته دعا کــــــوم

خیر زمـــا امام خـیاله ته که یې کافـــر د عشق
زه خـــو مســـلمان یم پېلامه په بسم الله کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د هیڅ بدل کــې خـــوږ اشنا رانه څـــه نور اخـلي
بابا ! له مـــوږ نه ســـتا د کړې ګناه پور اخلي

خدا بږده چې بخت به دې میراث مېنه په برخه راکـړي
خـــو د مرګي په پلمه زمـــا نه ختین کـــور اخلــي

دا ســـې مالت کې د ژوندون پېټې پر ســـر ګرځوو
چېرته چې روي ګـــورګتې خاورې د ګـــور اخلــي

لږ چې ســـتا وړ ســزا مو زړه کې څه خوږه غوندې سي
دا نه غوښـــتلې نه بللې په څـــه تور اخـلي

قسم چې ســـترو منډو ترړو ســـترې کـــړې یم نور
څوک په ســـــکون رانه د غبرګې دنیا شـــور اخلي

مـــور مړی زړه به مې له دې بزمـــه بې برخې د رومي
له ډېرې تندې له ســـاقي نه جام نسکـــور اخلـي

ښـــکاري د دې دنیا تورمخي به لا جګ ســـي هلته
خال د تندي لـــره جنت کې حـــورې ســـکور اخلي

کړې ســـــودا مو د دې وخت ســـره په ورانه اوړي
مـــودې سوې ساندې راکوي او ټنګ ټکور اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپیني خــوله خوند یو په غلا بل په رضا کې پټ دی
کــــوم لیونی به څک د ســـرو شونډو په زور اخلي

د چنګابښ اولسمه ۱۳۸۲ لمریز لیږدیز کال



(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زړګیه وروسته پوه سوې په حساب د تورو سترګو
له لاســه مې وتلی اوس کتاب د تورو ســترګو

چې چــــم نه د تنکیو غنمرنګو تږی وځـــم
په غـــاړه مې اخستی کوم عذاب د تورو ســترګو

قســم دی چې د ښـــکلو حسن دو مـــره یم ځپلی
په ســـترګو ورکوی نه سم ځواب د تورو ســـترګو

بس دغــــه مې راتګ دی د ببلتون په مـــز له وځم
د ښـــکلو میرې راکـــړه لږ ثواب د تورو سترګو

غـــزل نه د ملـــیار ځکه ولاړ بانه راوځـــي
هــــر توری بې مینځلی په دریاب د تورو سترګو

د چنګاښ ۱۸مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړومبه

دلته لا میر د میدان روی تړپک
دلته خبرې لا په تول کېږي
دلته لا ژبې د رښتیا ویلو
نګه سوګند لره جوګه نه ښکاري
دلته د حق خبر زر وارې خلک
د سترې ذهن منداړو کې شاربي
خو کچ یې شیندي د خیال کوڅو کې
تشه شړومبه وړي ولس ته نیسي

د چنګاښ ۲۱مه نېټه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د مینې په آیت کافــــر مـــــې یار نه سي کیدای
هـــغـــه چې یې خرڅ سوی خریدار نه سي کیدای

کـــاروان دی د لونګو او راڼه باڼه یې ســـــاتي
ناولی مــــو ددې یون ســــرکتار نه سي کیدای

نږدې ده ورځ رڼه ســـــي وړ ناوړ ســـــي رادبره
دا مــــه ګڼه تیاره کې د څه شــمار نه ســي کیدای

قسم هــــره نادوده دې په وړه ســـــزا لمــانځم
پښتــــــون یم په بدل کې مې تلوار نه سي کیدای

څـــو ځلې مې په ټینګه غبږه لمانځې دنګه پوه ده
چـــــاره د تږې زړه مې په یو وار نه ســــي کیدای

ملـــــیار ورته منصور دی هره شپه پکې زنګیږي
چا ویل کـــــړې د زلفو چبرې دار نه سي کېدای

د چنګابښ ۲۴مه ۱۳۸۲ لمریز لیږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نن ډېره ستړې ورځ وه خو په نره مې کړه تېره
کړې مې د لاسونو ښاپېرۍ نه کړه چاپېره

سپوږمۍ د سرو تبۍ سوه او پوره زموږ نړۍ وه
د حسن په دنیا کې دنیاګۍ وه رانه هېره

د دیو اورمېږ مې مات کړ د ښامار منتر مې پوخ سو
د مینې سپېره مې سوله زده بې زور او زېره

بېلتونه لاس دې خلاص تېره دې توره پدې پوه سه
هرڅه هرڅه کې یو سولو موږ پرته له کوشېره

دا نن صبا به ګل سي نور به زوزو ته ځای نه یي
کرلې د بوسې غوټۍ مې ووتې له شمېره

اوچت به یم چې یم ستا د ښایست په آیت ولی
د مینې سپین مومن ته له دجاله نه ستره وېره

د چنګاښ ۲۴مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زه جل وهلی وم هغه وه د باران بلنه
ما خو به خود په زړه منله د ایمان بلنه

غزل مې وېلې له ما ښام نه ملا بانګه پورې
د سپوږمۍ وړانګو کې وه نغښتې د جانان بلنه

ماته د رز د لور ښیښه کې مخ د یار ښکاریده
هر څو که خلکو ورته وېلې د شیطان بلنه

بیګا شپه خولې ته یې د شونډو په پل ځکه ورتلم
ما اورېدلې وه قسم دی د پېزوان بلنه

د یار کافر حسن او زما مومن زړه هسې سوځي
یا به منم یا به مني د مسلمان بلنه

د سپین او تور په نوم ستي زړګۍ به دانګي ورته
که په رښتیني چېرې واوري د انسان بلنه

یارانو څه وایئ د کال روژه کړو ماته که نه
امام مو نه سته چې خپره کړي د آذان بلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملــــیاره لاس راکــړه له دې سوي مالت مې باسه
نه چې سي ســـــــتړې په بللو د کـــاروان بلـنه

د چنګابښ ۲۶مه ۱۳۸۶ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د ترسا ساقي دی بزم څوک به شپه کراره یوسي
شور قسم کړی دا سر به یو ځل بیا تر داره یوسي

د ځلمو اوربې سوې ماتې ستوري تت سول د یارانو
باد به ما پښې څښېدلی نن له دې بنداره یوسي

د ارمان ببړی کې ناست یم اې ویده بخته راپاڅه
ګوندې بیا مې تندی ګل سي او منزل ته لاره یوسي

داسې سُر داسې نوا داسې لی داسې څه را پېښ سي
چې شپېلۍ مې له کیږدۍ نه د سپوږمۍ تر ښاره یوسي

زرکه میرې دې ګاونډ ته لږ ذکات د حسن باسه
نه چې باز د هسکو څوکو تا لدې کتاره یوسي

دې مور مړې د سر ویرې زموږ خبرې ټول په تول کړې
بس نږدې دی چې آن غږ مو د سته غلو له ډاره یوسي

د زړه آس عقل تړلی د ښکلا ورشو ښکاره سه
چې د غره مسته لټکه دغه لال له ماره یوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر مات کــــړه نازولې چې لښــــکر لښکر باڼه دي
چېرې خـــــدای مه کـــړه سـندره د رباب له تاره یوسي

زما د عـــمر شــــيخي واخله د غـــزل د بڼ ملـياره
یو څـــو داسې توري راکـــړه چې بس زړه له یاره یوسي

د چنګابښ ۲۷مه ۱۳۸۲ لمریز لیږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربند

د غــزل توري وري دي ستا د حسن ايلبند ستايي
دا ورشــو به رنګه نکړي د ښايست ګوتې يې پيايي

ارزولــــی د نور ګـــــوتو دغــــه ولی او نتلــــی
ځکه زه ورســـــره هوکـــړم زړه که هرڅه راته وايي

د خيال ښـــا پېرۍ ناســـته ده زما د عقل چـــم کې
ما لســـتونې دی ورکړی بس چې هرلورې مې بيايي

دا د ذهن ياغـــي آس مې دغــــه پړي ته رام نه ســـي
زه که حــــوره ترېنه يوسم نو غلمان به يار د چايي

شپخه راسه سوله وکړو نور زموږ منځ کې څه نه ستنه
ما په زړه کې دی موندلی ها دنيا دې ټوله ســـتا يي

دا زمـــا د غزل ســــترګه د ښـــکلا چينې مينځلې
زه په هرڅــــه کې يار وينم دا وينا ما ســـره ښـــايي

د چنګاښ ۲۸ مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زړه مې تږی دی په څک کې دریاب اخلي
د الف ځای کې د حسن کتاب اخلي

زموږ تکبیر د ترهګرو تکبیر ندی
چې د نورو په ژوندون به ثواب اخلي

چې توبې راماتوي په سر د شونډو
یار مې لمر دی د بڅرکي به آب اخلي

دومره ښکلی خو به کله دا سې وکړي
چې د یو څپک ژوندون به حساب اخلي

زورور مو ځکه ډډې خېټې ګرځي
دلته لا ډنګر وزګوري قصاب اخلي

ملیار څو ځلې د مار له خولې وتلی
خامخا د یار له خولې به ځواب اخلي

د چنګاښ ۳۱مه ۱۳۸۲ لمریز لیږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دا تا چې سرې منګلې په ښېرا ورته نيولي
همدې دې په ښايست ولې ناولي ډېر ترلي

هر څو که نظر مات له دې ځلمي سرونه ځار سول
خو دنګې ښاپېرۍ حسن دې بيا ديوان بللي

ګودر به څنګه وچ نه سي اوبه به ولې نه مري
چې دلته د نظر غشو شينکي منګي ويشتلي

د زړه حال مې چې ووېلې ښايسته سترګې دې مړې سوې
بانه دې پښتانه غاړه غړې سول غلي غلي

مولا دې خبر کړي نه چې د کوم باز خولې ته يې ورکړي
په غبرګو توتکيو تورحبش دې ټوکيدلي

نخرې دې د سپرلي وربخې د زړه په للمه اوري
د نور مستو چينو نه که جنت نه دي راغلي

مزار به مې په پېښکو د ټيکري خاما لمانځي
دا دود دی چې رانه وروسته له مرګه سي ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنديه خدايږو ســـــتا ســجدې که ځاځکی باران راوړي
شــپبه مخکې پدې تکبير چا ســـپين کبان وژلي

اوس هرځــــه چې پيښــــيږي د ملـــيار زړه يې منلې
يو ځــــک ته دې د شــــونډو جـــــنتونه درتللي

د زمري ۹مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دا ګلې رنګ ښــــه دی د مینــــې لیونی نه لــري
دوی په جامــونو وېش د می کوي منګی نه لــري

دا خــلک ځکه له ګرېوانه لــه لســــتوڼو تښتــي
دلته کې خرو زرکه ځـــاله مـــار ســـــوری نه لري

خدایه درځار سم واک د وخت دې چاته لاس کې ورکړ
خـــــوځنده ځلي دي بنګيړي خـــو زړګی نه لري

دا څــــووم ځل ســو چې د شنو سترګو نظر یې وهي
ښـــکاري ښایســــــته مخ دلیلا سم سپېلنی نه لري

پښـــتونه ښکاري چې دوی ستا د عقل ځل هېر کړی
لا هم ګڼي چې خر وګـــړی به مغـــــزی نه لري

د خدای غــــــزلو یې برجونو ته اوړه ورکـــړې
چا وېل شاعر زړه کې مېړه نه سته ســــــړی نه لري

ما شـــــوم ریبار مې چې سلام په منډه منډه وروړي
د قصاب لور ده خود کـــــور په وره کې سپی نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملـــــياره ســـــر ګوذار ته نيسي د ګوهـــر په تمه
خـــو د اشـــــنا ويشتلي ګاټي دې غمی نه لـــري

د زمري ۱۰مه ۱۳۸۲ لمريز ليږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دریا دېږي له مالت مــــــو چې وتلــو یاران یو یو
ماویل تم ســـه تا ویل ځمه وربدلــــو باران یو یو

چې مشال څـــاروان مووموږ د تیارو په تورو غشو
مســــــاپر په بېله لارو بېلېدل له کـاروان یو یو

عمر تېر ســو له ســتار نه د چینو زیرو بم ورک دی
د اوبو ابی لا شـــمېري بم ویشــتلي کبان یو یو

که څه زړه قحطی وهلی په خـروار به یې مورنه سي
خو اوس ښــه ده را رســیږي لږ تر لږه جانان یو یو

د ملالې او ناهیدې د پوښـــتنو وخت به راســي
د ټیکـــري ناولي غله به راکاږي له ګـریوان یو یو

د ســــــپېرې رڼا له وېرې ترهیدلي به راټول ســي
دا رښتیني به شرنګی ســـي خیر که اورو اذان یو یو

زه د خپل زړه ته د خپل زړه آیینو کـــې اشـــــنا وینو
شــــښخه ما در شـــریک نکړی تېرو و به ایمان یو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتـــو ښـــکالو يې اورم د ملیار نګه غــــزل کې
د ليلي په چـــاودې زړه به راتهو کـــيږي ګـلان يو يو

د زمري ۱۱مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نو څــــه به وو که می مو ښــــکاره لپو کې خــــوړلای
د نرمو شــــونډو ســــر مو په چکچکو کې خــــوړلای

دربار کې به دې څه کم وای که ټول عمر ماشــوم وای
روزي مـــو د چــــــیندوړي په ټوپکو کې خوړلای

هغه د سپوږمۍ شپې دنګه کوچۍ خړه کیږدۍ وای
څه شــــګې څه لشکې مو سوکړکو کــې خـــوړلای

ارمان که ربښتیا ســـترګو یار په هرڅـــه کې لیدلای
دیدن به مو په تشـــــو او په ډکو کـــې خوړلای

واه څـــنګه به وو چیرته که ځواني مو وړکتوب وای
نیني او شــــنه ممیز مــــو اکو بکو کـــې خوړلای

د یار څـــنګ او لونګ دې وای ملنګ دې وای په نره
شــــړومبې مو په ختینو اوبغړکو کـــې خوړلای

قســـــم دی که خاطــر دې د روانو اوښـــکو نه وو
بارخـــــو مې درنه ټول ګلـې مچکو کــــې خوړلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړينې کــور به ړنګ وو څــوک به بوره کونډه نه وه
ژوندون که د مرګي ســـر په مردکو کــــې خوړلای
د زمري ۱۵ مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواني

يوه هېره هيله مې د زړه په تل کې
ژاړي سلګۍ وهي عرضونه لري
ها تېره سوې کيسه بيا په ذهن
خړه کيږدۍ غوړوي
هغه نغمه چې زما په بند کې وه او زه يې پير وم
هاغه چې کله به يې د ناز په ګوتو
تانده سندره د ځوانۍ بلله
بيا تخنوي زما د خيال ورغوی
او د غزل کاکل ته ول ورکوي
ښکاري زړښت کې برخې ځل وهلی
نه چې د ښکلو خدای د چا نذر کې
يوه چټه د نګه غنمرنګه جينۍ
دې د لونګ ملنګ ته
دې د سندرو تال ته
دې ترېي جام ته دې نګه سلام ته
د سترګو رپ کې ورکړي
له کومه بيا ها سرګردانه سيوری
ها تت انځور لکه د چرسو لوګی
رانه تاوېږي ما په غېږ کې نيسي
ورو مې د وريځو په وزر کينوي
او په رڼو سترګو ها مات خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راباندې ويني خو قسم دی پيره
کله چې دوی وينم نظر مې خړ سي
لکه غريب چې خپل ماشوم ته پړ سي
قسم دی دوی نه مې نظر شرميږي
د هيلو ښکلې مېلې
هغو رازونو چې خمارو سترګو
د ښو څوکو کې په ناز لوبول
زما په سترګو کې يادونه شنه کړل
د وږمې لاس زما پر تږې نظر
د بېخودۍ د پريښانۍ ورغوی ورو تېر کړ
د زړه کړکۍ يې راته پرانستله
نو ځکه مينه نا بللې راغله
او د ځوانۍ مستې يې
زما په غزل کې ښانګې ښانګې کړله
هغه رنګينې زمانې ها ترانې شنې سولې
توري غوټۍ وو بيا ګلونه سول اوس شرنګ زيږوي
خو هئ ارمان يوازې ياد پاتې دی
د هغې مستې چې به دې شرنګ ته
نګه شرنګی نګه نغمه سوه باد به راوستله
زما پر سر به يې کيږدۍ د باران
د نرګس عطر کې مينځلې راوړه
هغه خوښې لوټ سوې
خو يو برباد زړه يو فرياد پاتې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ژوند چېرې وو
او چېرې راغی
د ځوانۍ پایله څه ترخه ده پیره ! ! !

د زمري ۱۲مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

له پانو نه راجوړه د باران کیږدې ته ژاړي
کوچۍ مینې قسم نن مې نوا شپېلۍ ته ژاړي

ته وایې ښاپېرۍ باندې باران په شبو اوري
ځولۍ ورته نیولې ده اسمان سپوږمۍ ته ژاړي

غزل غزل خیال مې بیا د زلفو ول کې زانګي
د بل منصور بدله بیا د دار رسۍ ته ژاړي

په تشه خندا لمانځي وخت سلګۍ سلګۍ وطن مې
همدا به یي، بلبل که د ګل وير ګلۍ ته ژاړي

سپېره مېره کودړي د وحدت د منګي شمېري
نتلۍ زړه د قام مې د پښتو لنډۍ ته ژاړي

روانې جنازې دي د نښترو او د لمنځو
په غم د رنګې ځالې توتکۍ سیسۍ ته ژاړي

پلازمېنه د ښایست یې، مخ یې سرو وربځو نیولی
چا شونډې ترې ځکلي دي پېزوان نتکۍ ته ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزله د ملـــيار غشی سه پاس اسمان سوری کــړه
ترخـــو به للمي دښـــتې د اوبو ابی ته ژاړي

د زمري ۱۸مه ۱۳۸۲ لمریز لیږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

رندانو کــــه په مـــېنه زموږ اور ولــــګاه
شــــــېخانو دا بل ســـوی اور څه نور ولګاوه

ایله ښـــایست پوره زما د زړه د تاج محل شـــو
له کله مې چې یاره ســــــــتا انځور ولګـــاوه

منم د نن واده به دې ښـــایستو کې پوره نه سي
خو بیا دې پدې غلي محفل کې شـــور ولګاوه

جانانه ما کوڅه ســتا په سجدو سجدو کړه ولې
نن ځکـــه زهد دلـــته کې خپل کور ولګــــاوه

راغلي نابللي به پرتوګ په غــــاړه یو ســــــي
د ښــــکلو ســـخاوت که لږ څـــه زور ولګاوه

صبا به یې دا خلک ټول د ګل په مرګي نیســـي
بې علمه شیخ چــــړي په ملــیار تور ولګـاوه

د زمري ۱۸مه ۱۳۸۲ لمریز لېږد یز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتیا خوب

څنګه رنګه بنګه بېګا خوب کې وې راغلـــــې
خدای دې راته ســـاته او دښمن دې ومره ګُلې

ټولګه دښـــایست دې وه او سرې سترګې د ګبر
زه دې ســـــپېلنی وم خو نظـــر رانه وهـــلې

جوړه زلـــزله وه زړه کې شور وو د یادونو
ترمې اوښـــکې ستا یې پاس په بام ورڅڅېدلې

درمند د سکروټو وو شنې لمنځې او نښتر دې
اورورته څادر وو ســرو لمبو چینې ځبېښلې

درز غپ د مرګـــې وو دوړو څښې غورځـــولې
کـــډې د لــــونګو او د زاڼـو بارېــدلې

ونو پاس آســــمان ته وچې څانګې وې نیولې
پېڅکې د ټیکریو پکـــــې پاڼې رپېدلې

غوڅ ګلاب ســــــرونه وو تنې تلې رنګې بنګې
دې" رقص مرده " ته بیا بګـــــوې نڅېدلــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــــپول کې د لیوانو ، ســور لنډیو اتڼ جوړ وو
پرې تې بورې میږې تربڼه ورو ورو څـــښیدلې

څو مره سترې خوب وو څـنګه توره تروږمۍ وه
خدای قسم ســبا مې آن ترې وربغې تښـتیدلې

څو چې داړې ازغي اوښ د مرګ ونخورې
مړې نه سي کړزې تېره شــــپه چې ګډیدلـې

څـــــو چې د قصاب لمن محراب نه ښکته نه سي
ګل نه سي ها وینې چې له خــــال دې بهیدلې

***

لپه د دعــا کې به ماشــوم ارمان ســوځیږي
بیا به تروږمۍ یي او بګــــوې به لنګــیږي

دا د وېرې خوب به دې نیمګړې ښکلا سـوځي
دا د اور پړونی به دې شور او نوا ســوځي

د زمري ۲۴مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت

کنډاسې ژامې غـــــرونه زړونه کاڼو ســــره خوري
شـــېخان د زمانې کتاب له پاڼو ســــره خـــوري

چې يوځای روي شونډې او پېزوان خـــوله ګرمه نه ده
تل خـــــواره وربې ډکي له موماڼو ســــره خـــوري

خــــزه کې د بڼو بتی د ســــــترګو تربڼه ســــاته
د وخت روی نظـــــر څپې له زاڼو ســــره خـــوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوړه

ابکه پلاره ډېر مې ښه یادېږي
هغه سپېره هغه بېخونده سهار
چې دې په خوب کې په تندي ښکل کړم
او ویل دې ګوندې نن ددې له مخه
خدای مو په لږ څه اوړو و ارزوي
ویښه وم ځان مې هسې خوب کې نیوه
څو مې د کور له وره نه خرپ واوریده
ته رانه لاړلې بیا رانغللې
خدای خبر
چېرته به یې
دا نن یې شپاړس کاله سم پوره سول
خو ستا د چاودو شونډو
ستا د تېرو برېتونو
احساس په سوې تنډه بر ګرځوم
پدغه هیله چې به خرپ د وره سي
ستا د پښو ښکالو به
سکني ماښام کې زما د خیال پیښکي
په چاودو ګوتو
په تودو لاسونو
د ماشومتوب څلي کې بیا وتړي
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ګونګوسو پلاره اوړه اوړه کړم
چې ګوندې چا به يې
بټې کې سوی
یا به دې سر کې
چا يي ميخ ټومبلی
چېرته چې ما به په ماشومو ګوتو
ستا د پکړۍ ول کې څونډۍ ټومبلو
آه، څنګه زړونه دي له څه نه جوړ دي
دومره هم نه ويني چې زما تندي کې
ستا د زيړو شونډو کرلی زړی
لا د باران په تمه
لا د نياو په هيله
لا ستا د ښو د خوږ ښکالو په ارمان
ستا د راتګ زيری په زړه کې روزي
خدای دې دا ورانې ګونګوسې دروغ کړي
خدای دې بيا راوله د زړه سپرليه
زما څوربدلي کړېدلې پلاره
لور دې لا سترګې په ارمان غړوي

د وږي ۱۳مه ۱۳۸۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګیه

هر څــو که خوبونه په مړوند کــوو
مرګه آخر ستــا لپاره ژوند کــوو

ګـوره چې بې ډول او سُرني رانه سې
یاره هرکلــی دې ډېر په خوند کــوو

موږ ته له ښو نه هم نږدې ښـــکارې
هره شېبه عمر ســـتا په بنـــد کوو

خوږ اتک یې خامـــخا درتګ لـرو
خبر دی که نن مـــبنه په اېلبند کــوو

ګوره اوس ایله د ژوندون چـل راغی
لږ تم ســـه بیا هرڅه ستا په اند کوو

غـــېږ به دې قسم په نغموډکه کـړو
موږه شــاعران یو ښـــه چلند کـــوو

د وږي ۲۸مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پلی وې راغلــی هسې نه چې پلی پاتې ســـــې
خوله وا خله ناره ،ناره سه نه چې غلــی پاتې ســې

هر پرهر دې توری د غـــــزل دی ســـمه ټولګه یې
زړه ! خدای نه دې غواړم په ښو ویشتلی پاتې سې

می باندې اودس کـــړه اقتدا د خـــــال امام پسې
دلته کې که غواړې چې رښتیا ښاغلی پاتې ســـــې

دا چې دې د ښـــــکلو مخ ته تل سپېلنی ګـــرځوم
بس قســـم دی غواړم چې ســـوچه او ولی پاتې سې

ګوره ښـــکر به مات کـړې وخته ماته اړم کېږه مـــه
لــړ دی ترهګر غـــوندې له بخته تللی پاتې ســــې

خدای دې شـــــخه تا په تشو تشو توبو موړ نکړي
زړه غـــوندې مې تل له لوږې بوټ وتلی پاتې سې

زه به یم او شـــونډې ما ته پیر دغه دعـــا کـړې
څه تل د پېزوان غـونډې په خـــوله تړلی پاتې سې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روې ورک سې لوښ غزل دې سترګو کې بوسې کري
بېخ دې شين سه ونه مرې رسوا نتلی، پاتې سې

خوار مه سې ملـــياره بس مين يې پاړوګـر نه يې
شـــپه نه يوه شپه به په کوم مار چيچلی پاتې ســـې

د تلې ۱۲مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

سترګې په سترګو سولې سترګې مې په لار پاتې دي
بس له هغې شپې مې هیلې پاس په دار پاتې دي

بېګا کوم تت ارمان یې تل کې سترګکونه وهل
لا د زړګي کابل کې څه نښې د ښار پاتې دي

سوو ښېراوو د ظالم مانۍ ویجاړه نکړه
پاس د آسمان په لور منګلې د څنار پاتې دي

ښکارې د سرو شونډو په راکړه څه جګړه سوې ده
د برګو در په غاړه څو دانې د هار پاتې دي

وربېځو را ښکته سئ راغه باندې ښکاریان ړانده کړئ
څو مات وزرې زانې دلته له کتار پاتې دي

آن مو د ونو وچو ګوتو کې ریښکۍ رپېږي
وطن زیارت سو ښکارې لا مرګي په وار پاتې دي

لږ ده سندرې به راشنې سي او سلګۍ به ومري
دلته لا زړې د غزلو له ملیار پاتې دي

د لړم لومړۍ نېټه ۱۳۸۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د ښو ټال کې مې د اوښکو ماشوم مړ کړځوم
وایه اشنا څو به ستا مینه کې مخ خړ کړځوم

دوخت روڼ مخو ته څوک هسې ګوله نه ورکوي
څو زه سپین سترګی په پردیو کټوو پړ کړځوم

ارمان ترا وسه چا جامه د عمل ورنګړله
ډله په ډله یو څو توري لوڅ لغړ کړځوم

د قصاب لور ده ما په تشه خندا نه ارزوي
څو که دودی ورته هر پل کې د انګړ کړځوم

د زړه څنار مې دې سودا لکه ویني خوړلی
دا په څلور کتابو پړ به څنګه ورړ کړځوم

د حسن خدایه بس په خپل ځایګي یې وارزوه
څو به سپېره مېره د ښکلې پښتو ګړ کړځوم

د لړم اتمه ۱۳۸۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

قسم دی چې د تندې ماتولو چل مې زده دی
که جام نه یي په لپه کې د څښلو چل مې زده دی

ملګرې شېخه ستا کړو سجدو ته مې سلام دی
د ښکلو د روژو د ماتولو چل مې زده دی

په سر مې خُم را مات کړه ساقي ما په بنګړو وله
څه روی نه یم یو دا د سکونډلو چل مې زده دی

د حسن ذکات و بښه دې ما ترې هم دربوله
که نور نه یې په سترګو د څټلو چل مې زده دی

دې سپینو تورو څړیکو کې مې درد دومره اخته سو
والله د ټولو ولو او ناولو چل مې زده دی

څو ورې د ښکلو تورو د ښایست ورشو کې پیایم
خو نه وایم شاعر یم د غزلو چل مې زده دی

ملیار یم ما په زور او زېر د ګل مخ ختم کړی
عامي نه یم د هرڅه د لوستلو چل مې زده دی

د لړم ۲۲مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پاڼه دا څنار

ساقي تنده مې پا بلې د خماره پورې ځي
يو سرلرم چې مينه کې تر داره پورې ځي

چينې لا مرورې دي له غرو نه را کوزيږي
وېرېږي خړې نشي څو تر ښاره پورې ځي

خير دا ځلې که پاتې د ښکلا له ذکات وېش يم
سپېرې شونډې مې دا دی تر بل واره پورې ځي

ورځار شم لا د زانو اتڼ مست وهي څرخونه
که څه د ګولۍ ډز يې تر کتاره پورې ځي

ټپي شو خو ټپ نشو سندربول فطرت ته ګوره
دېرې مو له لنډۍ تر يکه زاره پورې ځي

که څه هم ډېرې غورځې پرځې ډېرې سترې شته دي
آخر مو دا مزل ښار د څناره پورې ځي

زه ګرم نه يم د ټنډې کرښې داسې دي راغلي
چې هره لاره ونيسم تر ياره پورې ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملـــــــــياره پام د خوب کيږدی، په ســـترګو خوره نشي
د دنګې کوچۍ، کډه تر ســــــــــــــــهاره پـوري ځي

د لړم ۲۷ مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څـــه يې کړم ددې وخت مسلمان او کفار څه وايي
خدايه پدې پوه مې کړه چې ستر ګو کې يار څـه وايي

خـــــــير د کومې دنګي په کړۍ زلفو مې وتړه
دا راز راښکاره کـــړه چې منصور لره دار څه وايي

ما ته يې د سُـــــــر او تال پـــه ژبه دنيا پرانيسته
خــــوار ملا ته وو ايه رباب او سِـــتار څه وايي

زه شاعـــــر يم ماته د ګلـــپاڼو سبق ښه راځــــي
خدای که به پرې غوږ يم چې د شوبلو کتار څـه وايي

دا د کــــــوم ناولي د نادودو پېټې ګرځـــــوي
ســــــتړي اورمېږونه د ښنبتر او ځـــنار څـه وايي

ســـږ به کومه سپينه ابۍ وربخ دلـته کې لنګه سي؟
کلي، غرونه څه وايي، دا دوړې د ښــــار څـه وايي

وږي د غنم پسې مې زړه لــــــــکه غنم چـوي
کال ته به بيا وګـــورو چې کر د کوکنار څـه وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه لکه ساده مومن نږدې ده چې لار ورکه کړي
دلته مُنار څه وايي او هلته مُنار څه وايي

دا د لونګ ډله به په کومه ډزه وانوړي؟
ستړی مزل څه وايي، کاروان ته مو لار څه وايي

سته دي څو ټپي زانې څو مات بنګړي پوهيږې چې
خوار، په زړه ويشتلی، او نتلی مليار څه وايي

د لړم ۲۹مه ۱۳۸۲ لمريز لېږديز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنجاره

راځئ چې نن آسمان ولو په ستورو
سبا چې څه پېښيږي بيا به ګورو

د لمر لمن کې وکړو سندرې
سينګار کړو کاينات په غزل تورو

چاپېره له سپوږمۍ برجونه رنګ کړو
د ځمکې په مخ واک واخلو له سيورو

باران باران ملګرو وږمو خويندو
راځئ چې نور په سرو سکروټو اورو

دا يو کلی دنيا کړو ربښتيا کلی
شپېلۍ کړو بريالۍ پر سپکو سپورو

نکريزې د ټوپک په ځای وربار کړو
ځئ نوم د بنجاره واخلو له نورو

يو شين ښار د انسان په نوم آباد کړو
بس رنګ کړو کرښه وېش د سپينو تورو
د کب دوهمه ۱۳۸۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو

د زړه په سر مې ناسته یې خبرو کې راځي
غزل سې نګه سُر سې په سندرو کې راځې

آغلې په فطرت د توتکۍ له وزره څاڅي
چې وخت یې سي سرلیک د زورورو کې راځې

د مینې د آیت غوندې به ولې ولې نه یي
له هسکه دنګو څانګو د نښترو کې راځې

نغمه د ملکوت یې خوږ تکبیر یې د بلال
د شاتو د مچیو په وزرو کې راځي

چوپړ ته به دې ولې ګونډې نه وهي سرونه
قربان دې سم د سرو زرو په زغرو کې راځې

په مینه نګه مینه یې حیا باندې پسوللې
په ننګ د تورې پړق یې په لښکرو کې راځې

ښایست دې د درنو نرخونو ناز پلورې پر سیالو
خوږې، غرنۍ، دنګې په ګورګورو کې راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیړه، نګه، شډل، سپېڅلي توري لرې زړه کې
د پټو خزانو په شمله ورو کې راځې

نږدې دی برم او پټ به دې د ښکلې مینې پالو
بس خیر دی یو څو ورځې مرورو کې راځې

د کب شپږمه ۱۳۸۲ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختهکی (ګران لیوال ته د (پینځه دیرش) آزاد شعر په څواب کې ډالۍ)

خیر دی زړه مات نکړې لېواله یاره
له ډېرو ډېرو ښه یې
زما نه خبر سه چې مې زړه لکه غنم چاودلی
مور وایي
زویه چې د پلار دې پچه وختله
نو ته هماغه کال
ها سوړ ژمي کې
د لوریینو خدای ډالۍ کړې ماته
پلار نه مې کال د عسکرۍ هېر وو
ویل به یې ښه مې دي په یاد چې په هغه اوړي کې
زموږ پالېز په خروارونو ختهکي کړي وو
ته ختهکی هماغه کال ما ته خاوند راکړلې
ما ګوره !
چې مې کلیزه را معلومه نه ده
ته ښه یې لږ تر لږه تمه لرې
دو مره خو یې
چې د کلیزې په بانه چا نه ګیله وکوې
وایه اشنا !
زه ختهکۍ،
چا ته ګریوان څیرې کړم ؟

د کب ۲۰ـ ۱۳۸۲ کال ـ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شډله یاره

شډله یاره وایه څو راپسې بم ګرځوې
د خپل د کلي د ماشوم له خولې نه مم ګرځوې

قسم لمبه به یې ستا د ږیرې تبرک وسیځي
زما په سترو ولو ډز خپله قلم ګرځوې

شبخه ما ځکه ته پرې ایښی یې او خال پسې ځم
په خوله الله وایې ، لستوني کې صنم ګرځوې

خدایزده چې کومه ټینګه غیرت مې در یاده سي چې
زما تر مزاره لا رسیږې نه قدم ګرځوې

ستا د ښایست زما د غزل ورشو به شاړه نه سي
څو چې د تورو سترګو للمه کې دې نم ګرځوې

له اسویلي نه دې د وریت ارمان لوګی راوځي
ملیاره خدایزده چې د کومې میرې غم ګرځوې

د کب ۲۵مه ۱۳۸۲ کال – کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وایــــه پــــه څــــــه د دریانوشــــه لالي لاس رپیږي
ځکه چې ســـته دي څو شملې هلته کې پاس رپیږي

ښــکلې د حسن ســمندر کې دې څه کوډې سته دي
چــې یې له وبــــرې نه لینګي د هر غــواص رپیږي

تندې به ماتې ســـي جانانه وچــکالي به ومـــري
خیر دی که لا مو سیند سراب دی پرې بړاس رپیږي

دا دې د ســـپینو غاښو ځل دی په خــوږه خندا کې
کــــه د ګـــلابو په هېنداره کـــې الماس رپیږي

ګــوره دا شـــونډې غنمرنګې لــږ په وار راکــوه
ددې درنــــو وریو لاندې د زړه آس رپـــیـــږي

د غبرګولي ۱۰مه ۱۳۸۲ لمریز لېږدیز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مېنې لوست

مورجانې بیا یې له ټولګي وویستم
بیا مې ښوونکې،
ټولګیوالو،
آن ها تورې تختې،
راپورې وخندلې
***

څو مره ښه شپه وه
په سبا یې چې ښوونځي ته تللم
تا وېلې شکر خدایه زوی مې مکتبی سو راته
سبا به څنګه ښه ښکارېږي
چې ښوونځي ته درومي
زما خیال ته به
هغه اشنا انځور راغی
چې مې له تبر ژمې
تنکي ذهن کې پټ ساته
لکه کوتره د سخي د زیارت تکه سپینه
لکه زما د الفبې سبپاره پاکه درنه
زمونږ ښوونکې د غزلو ښایسته ښاپېرۍ
د ټولګي پاس سر کې ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور، ته مینه ښيي
مور، ته الله
مور، ته انسان
مور، ته افغان راښيي
افغانستان راښيي
***

مور، د برښنا په مزي ناستو توتکیو په شان
دغه د مینې سېپاره پسې په شرنګ وایو
د ښوونځي له پاسه شنه اسمان کې
د خدای لېږلې څو ملکې زمور، د لوست تورو ته
سپینو وزرونو کې د حق د نامه رنګ ورکوي
څو دغه توري ټول رانه ستوري سي
او د تیارو لمنه وڅیري د نور په غشو
ترې د رڼا کمکي تنکي یرغمل ټول خوشې کړي
وطن رڼا رڼا سي
***

مورې خبره یې؟
له زړه مې تورې وینې څاڅي
چا پکې سته اشنا انځور راته په کاڼو ویشتی
زما ټولګی،
زما ښوونځی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ښووونکې مړه ده
له شنه آسمانه یې د خدای ملکو کډه کړې
تیاره لا ماته نه ده
او د رڼا تنکي کمکي بچوني
د ترورږمی سمڅو کې تت پراته دي
***

ما ویل چې څنګه تا ویلي وو
هغه به وکړم
او د ښوونکې پسې سم به
نوی لوست تېر کړم
ما خو ګڼل چې د غزل ښاپېرۍ لوست راکړی
زما په هډ هډ کې څو داسې ښه ویېونه ستهدي
چې د ښکلاوو د خاوند د نوم په سر پیلیږي
سم به ښوونکې پسې ووایم
الله، انسان،
افغان او ګران افغانستان،
بیا به مې ونازوي
خو نه پوهېږم ما نه یې څه وپوښتل
رنې، رنې مې ور کتلې هېڅ مې ونه ویل
دوه، درې، څلور ځل یې هغه خبره وکړه راته
خو زه پرې پوه نه سوم
لاس کې قلم یې زما پر مخ وویشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل ښوونکې صایب، سبق مې زده دی
له مټ یو ونیولم،
غوږ یې را تاو کړ،
او کوم څه یې وویل

***

مورجانې ستا د هغې شپې شکرانې یادې راته
لکه چې دلته شکرانې په سزاګانو اوړي
زه یې پدې نن له ټولګي وویستم
چې د ښوونکې، ژبه نه راتلله
مورجانې ستا په رازده ژبه ولې لوست نه سته ؟
مورې ښوونکې خو ښوونکې ده هر څه به ورځي؟
خو ولې زما په خبره پوه نه سوه؟
زه یې له مټ نه رانیولی له ټولګي وویستم
ما ویل خیال کې مې راکړی لوست به تېر کړم ورته
الله، انسان، افغان او ګران افغانستان به وایم
ورته به خپل زړه کې راجوړ د ښیښنو ښار ښکاره کړم
خو مورې ، ګرانې مورکۍ
مخکې تر دې چې خوله مې خلاصه کړم، کوم څه یې وویل
او ورسره مې څو همزولو ټولګیوالو په کړس
سپکه خندا وکړله
هوکې مورکۍ، هغه خبره چې ښوونکې وکړه
بس لکه کاڼی یې زما د ښیښنو ښار ړنګ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اوغان غول) باندې يې پوه سوم نور مې نه يادېږي
ځکه اوغان ته څه نږدې شي مې په ذهن کې وو
ما خو افغان، افغانستان، ختـه کې نغښتي لرل
ځکه همدومره پوه سوم
هغوی زما د مينې لوست ته سپکاوی وکاوه
نو مې راکړي کتابونه راته ډېر درانه سول
لکه د جبر پيټی يې زما پر اوږو زور و اچوه
قسم نږدې وه نری ملا ځنې مې کړس وباسي
نور ستا خوږې ژبې ته پړ ښه نه يم
ځکه مې داسې پتيېلې مورې
چې دا د جبر پېټی
په تنکو سترو اوږو نه ګرځوم
خو ستا ارمان پوره کوم مورې
ستا شکرانې د مکتبې زوی به بېځايه نه ځي
ماته هغه د مينې لوست بس دی
زه به په دې څلورو
الله، انسان،
افغان او ګران افغانستان يادوم
د وخت اورمېږ مات کړم
او پاتې لوست به ستا له ژبې وايم
ستا له ښوونځي به بريالی ووځم
بيا به مې ته
ټولو سيالانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګوته ښيي
او په خواږه غږ په خوږه ژبه به داسې وايي:
ها چې الله، انسان، افغان، افغانستان وايي
هغه زما زوی دی
هغه زما د ژبې
هغه زما د مينې
هغه زما د پېرزوينې له ښوونځي وتلی
هغه به هېڅکله څوک مات نکړي
ځکه هغه زما ارمان ته په درنه کتلي
هغه زما په ژبه لوست کړی دی
دا مکتبي دا دنګ څنار زما د لاس نښه ده

د غبرګولي ۱۰مه ۱۳۸۲ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملیار حکمت الله نومېږم. په کال ۱۳۴۵ کې مې د کابل په ښار کې د رحمت الله کاکړ په کورنۍ کې سترګې نړۍ ته پرانستلې. لومړنۍ ـ منځنۍ او لوړې زده کړې مې د کابل په ښار کې بشپړې کړې دي. د پښتو ادب د نګه شعر له یون سره له کال ۱۳۷۰ څخه راپدېخوا ملګری یم. لومړنۍ بشپړه شعري ټولګه مې د خپراوي په ګانې د ښکلې کېدلو څخه تر مخه د طالبانو د راپرځېدو وروسته دغرو خوراک شوه. لنډو کیسو لیکل مې له ۱۳۷۷ څخه راپدېخوا پیل کړي. او ایله مې دوه لنډې کیسې لیکلې دي چې د داستانونو په مجلهٔ کې خپرې شوې دي. لومړنۍ شعري ټولګه مې دادی ستاسو مخې ته اېښې.

ټولګه مې ولولئ او که چېرې ستاسو د نظر وړ وه نو خپل درانه نظرونه په لاندې پته را ولېږئ.

hmalyar@yahoo.com

ډېره مننه !

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library